RUSI

Funded by
the European Union

www.rusi.org

مهالنۍ مقاله

# د اسلامي دولت پر ضد د طالبانو مبارزه: د لومړيو برياليتوبونو تشريح کول

Antonio Giustozzi



مهالنۍ مقاله

**د دفاع او امنیت په اړه د خپلواک فکر 192 کاله**

د شاهي متحده خدماتو انستیتوت (Royal United Services Institute, RUSI) د نړۍ یوه تر ټولو زړه او د بریتانیا یوه مخکښه دفاعي او امنیتي فکر خونه ده. د دې ماموریت، د یوې خوندي او باثباته نړۍ په اړه د عام بحث خپرول، هڅول او وده ورکول دي. RUSI یوه څېړنیزه اداره ده، چې د اوسمهال پېچلو ننګونو ته د رسېدګۍ لپاره خپلواک، عملي او نوښتي تحلیلونه تولیدوي.

په 1831 کال کې له رامنځ ته کېدو راهیسې، RUSI د خپلو فعالیتونو د ملاتړ لپاره پر خپلو غړو باندې تکیه کړې ده. له څېړنې، خپرونو او کنفرانسونو څخه د عاید سره یوځای، RUSI د 192 کلونو لپاره خپله سیاسي خپلواکي ساتلې ده.

دا خپرونه د اروپایي ټولنې په مالي ملاتړ سره تولید شوې وه. د منځپانګې مسئولیت یې یوازې د لیکوال پر غاړه دی، او اړینه نه ده چې د اروپایي ټولنې نظریات منعکس کړي.

© 2003 اروپایي کمېسیون. ټول حقونه خوندي دي.

په 2023 کال کې د دفاعي او امنیتي مطالعاتو د شاهي متحده خدماتو د انستیتوت له خوا خپور شوی.

د RUSI مهالنۍ مقاله، اکتوبر 2023. ISSN 2397-0286 (ان لاین).

د پښتۍ انځور: د فرهاد هاشمي/عالمي انځورنو زېرمې څخه په مننې

**د دفاع او امنیتي مطالعاتو لپاره د شاهي متحده خدماتو انستیتیوت (Royal United Services Institute**
for Defence and Security Studies)
Whitehall
London SW1A 2ET
برتانیه
+44 (0)20 7747 2600
www.rusi.org
RUSI یوه ثبت شوې خیریه (شمېره: 210639) اداره ده

Funded by the European Union

# منځپانګه


**اجرائیوي لنډیز** **1**

**سریزه** **3**

میتودولوژي 6

**I. طالبان او IS-K: د دوښمنی سرچینې** **9**

**II. په 2021 کې د IS-K د ننګونې د حجم زیاتېدل** **11**

د IS-K بشري ځواک 11

د IS-K مالي سرچینې 12

د IS-K روحیات 13

طالبانو IS-K څه ډول ارزولی و 14

**III. د IS پر ضد د طالبانو مبارزه** **15**

بې توپیره ځپل 15

توپیري ځپل 17

د شنډولو لارې چارې 20

د طالبانو د پخلاینې معاملې 23

له سلفي علماوو سره د خواصو جوړ جاړی 27

**IV. د طالبانو تکتیکونو ته د IS-K ځواب** **31**

د شنډولو تکتیکونو ته غبرګونونه 31

د پخلاینې او بیا یوځای کېدو معاملو ته ځواب 37

د طالبانو د خواصو لنډمهالي جوړجاړي معاملې ته ځواب 38

د IS-K ځوابي بریدونه 38

په 2021-22 کې پر IS-K تولیزه اغېزه 40

**پایله** **42**

**د لیکوال په اړه** **45**

# اجرائیوي لنډیز

دا مقاله هغه ستراتیژۍ څېړي، کومې ستراتیژۍ چې په خراسان کې اسلامي دولت (IS-K) له خوا په 2021-22 کې، په افغانستان کې د رامنځ ته شوي ګواښ په ځواب کې د طالبانو د بالفعل ادارې له خوا تطبیق شوي دي. له وروستۍ کمزورۍ باوجود، اسلامي دولت (IS) او د دې سازمان د سویلي اسیا څانګه IS-K، د ځمکې پر مخ له زیاتو پیاوړو تروریستي سازمانونو څخه یوه ده – لکه چې په ترکیه او اروپا کې د دې سازمان د بریدونو د پلان کولو وروستي راپورونه یې څرګندوي. د طالبانو او IS له غړیو سره د 2021 له وروستیو څخه د 2022 تر نیمایي پورې شوې څېړنه ښیي چې IS-K په دې موده کې په افغانستان کې د طالبانو لپاره یوه جدي ننګونه وه. په داسې حال کې چې دوی په لومړي سر کې د IS-K له خوا د ګواښ شتون رد کړ، طالبانو ډېر ژر د دې سازمان سره د مقابلې لپاره وړتیاوې پیدا کړې – دا وړتیاوې، او دوی ته د IS-K غبرګونونه د دې مقالې موضوع ده.

دا مقاله د IS پر ضد د مبارزې هغه پنځه مهمې طریقې ښیي چې طالبانو د 2021 د اګست له میاشتې وروسته غوره کړي دي: بې توپیره ځپل؛ توپیري ځپل؛ د مخنیوي لارې چارې؛ د پخلاینې معاملې؛ او د خواصو تر منځ جوړجاړی.

په داسې حال کې چې د دوی ابتدایي غبرګون په بې توپیره ځپلو کې ښکېلتیا وه، طالبان په تدریجي ډول د یوې داسې تګلارې پر لور ولاړل، چې په توپیري ځپلو تمرکز ولري، او موخه یې د IS-K د فعالیت په سیمو کې په پرتلیز ډول د ځایي ټولنو سره کار نه درلودل و. دوی همدا راز په دې موده کې خپلو استخباراتي وړتیاوو ته هم د پام وړ وده ورکړه. د 2022 کال تر دویمې نیمایي پورې، طالبان په کافي اندازه د IS-K د واحدونو په له منځه وړلو او په کافي اندازه د دې ډلې د مالي تمویل په بندولو کې بریالي شول، تر څو د دې ډلې فعالیتونه کم او د ګواښ مخه ونیسي. طالبانو همدا راز پخلاینه او بیا یوځای کېدنه هم تجربه کړل، او ویې کولای شول چې د افغانستان په ننګرهار ولایت کې د IS-K څو سوه غړي تسلیمۍ ته وهڅوي، چې دې کار په یاده سیمه کې د IS-K د ادارې په له منځه وړلو کې پرېکنده مرسته وکړه.

په هر حال، د طالبانو په چلند کې د پام وړ نیمګړتیاوې هم موجودې وې. دې مقالې موندلې ده چې له IS-K سره د مبارزې لپاره د دوی توپیري لیدلوري، د قانون د حاکمیت او بهرنۍ څارنې د پیاوړي سیستم په نیشتوالي کې د پیاوړي موقف د موندلو لپاره هلې ځلې کړي دي. داسې برېښي چې د طالبانو مشرتابه هڅه کوي تر څو ویې هېري، څه ډول ډاډ تر لاسه کولای شي چې د دوی د امنیتي دستګاه ټیټ رتبه طبقې د خپل سري تاوتریخوالي څخه د مخنیوي لپاره امرونه تعقیبوي. دا مقاله همدا راز روښانه کوي چې طالبان څه ډول په سم ډول د پخلاینې او بیا یوځای کېدو د هیله ښونکو ابتدایي هڅو په تعقیبولو کې ناکام شول.

IS-K له خپله اړخه د طالبانو د تروریزم پر ضد هڅو د مخ پر زیاتېدونکي جریان په ځواب کې د پام وړ تنظیمي نرمښت ښودلی دی. دې ډلې خپل ځان په یو پټ سازمان بدل کړی، خپل ټول مرکزونه یې

پرېښي دي او خپلې ډېرې شتمنۍ یې د افغانستان شمال ته لېږدولي دي. په دې لیدلوري سره، او خپل بنسټ ایښودونکي سازمان ته د وفادارۍ پر بنسټ چې هغه IS دی، IS-K توانیدلی چې په افغانستان کې فعال پاتې شي، ان په داسې حال کې هم چې د احتمالي وجود له ننګونو سره مخ و، لکه په ترکیه کې د دې سازمان د مالي مرکز ځپل. IS-K د جلب او جذب په ګډون، په پر لیکه فعالیتونو تکیه زیاته کړې

د ډېرو ځارونکو د تمې خلاف طالبانو ډېر ژر د IS-K ننګوني ته ځواب ویل زده کړل، او د پام وړ بریالیتوبونه یې تر لاسه کړل. په هر حال، له IS-K سره د دوی د مبارزې د هڅو اوږدمهاله اغېزې لا تر اوسه روښانه نه دي، ځکه چې د دوی په افغاني لیکو کې د تنظیم کولو تحریک کونکو ته تر ډېره بریده پاملرنه نه ده شوې.

# سریزه

طالبانو د 2021 د اګست په میاشت کې په افغانستان کې واک په لاس کې واخیست. د یاغیانو د جګړې د تمرین کونکو په توګه، دوی باید شیبه په شیبه د تروریزم او سرکښۍ (بغاوت) پر وړاندې د مبارزې د لارو چارو زده کړه پیل کړې وای، په ځانګړي ډول د دوی د اساسي ننګونکي په توګه د سر راپورته کونکي په وړاندې، چې هغه په خراسان کې اسلامي دولت (IS-K) دی. د دوی ابتدایي هڅې د "بې رحمانه" او "بې اغېزې" په توګه پېژندل شوي دي.[1] نورو دا باور ښودلی و چې امارت به په یوازې ځان په بریالیتوب سره د IS-K مقابله ونه شي کړای. [2] هغه ډول چې دا مقاله به یې روښانه کړي، طالبان په ابتدایي ډول تر ډېره حده په بې رحمانه لارو چارو متکي وو. په هر حال، څه ډول چې د دې لیکوال د 2023 کال په مقاله کې ښودل شوي دي، د (ډېرو محدودو) مالي امکاناتو او بشري سرچینو له شتون سره سره، په وروستیو میاشتو کې د طالبانو چلند په ځانګړي ډول بې رحمانه نه و، او په ورته وخت کې تر یو حده اغېزناک و، لږ تر لږه په لنډمهال کې.[3] په حقیقت کې، طالبان چې د دوی د 'جهاد' په اوږدو کې (2002-21) د طبیعي ځواک په توګه بلل کېدل، په واقعیت کې یې لا دمخه هغه مهال د پام وړ تنظیمي مهارتونه ښودلي وو.

دا تجربوي څېړنیزه مقاله د اروپايي ټولنې له خوا د تمویل شوې STRIVE Afghanistan پروژې یوه برخه ده، او په دې اړوند زیات بحث او تحلیل کوي چې د IS-K سره د مبارزې لپاره طالبانو څه ډول خپله تنظیمي پانګه کارولې ده. هغه لاربښود پوښتنې چې دا مقاله یې ځوابول غواړي دا دي چې: طالبانو څه ډول د 2021 له اګست وروسته د IS پر ضد د خپلو تکتیکونو ترکیب جوړ کړ، د IS-K پر ضد جګړه کې دا تکتیکونه څومره بریالي وو، IS-K څه ډول له دې سره ځان برابر کړ، او ایا طالبانو، د غېر متحرکو تګلارو په خپلولو او پر تاوتریخوالي تکیه کمولو له لارې، د اوږدمهالي ثبات تر لاسه کولو هڅه وکړه؟ له دې امله چې طالبان د IS پر ضد د مبارزې هڅې د تروریزم او یاغیتوب پر وړاندې د لوېدیځ د پوهاوي له مخې نه ترتیبوي، نو لیکوال به هم دا ډول اصطلاحاتو ته له اشارې کولو ډډه وکړي، او پر ځای به یې د دوی ځانګړي لارې چارې مطالعه کړي. لکه چې د تروریزم پر ضد د غېر لوېدیځو غبرګونونو په یوه غېر معمولي څېړنه کې یادونه شوې، شونې ده چې د تروریزم او تروریزم سره د مبارزې لوېدیځ نظریات، د غېر لوېدیځو دولتونو او لوبغاړو له خوا د داسې هڅو په تحلیل کې ډېر ګټور نه وي. [4]

بحث په دې تمرکز لري چې د 2021 له اګست وروسته، طالبانو څه ډول په بې توپیره توګه د هغو خلکو پر وړاندې چې په مستقیم ډول په وسله وال مخالفت کې ښکېل نه وو، او په توپیري ډول د فعالو یاغیانو

---

1. Colin Clarke او Jonathan Schroden، 'بې رحمانه بې اغېزې: طالبان څه ډول د یاغیانو د مخالف په توګه په خپله نوې دنده کې ناکامېږي'، *War on the Rocks*، 29 نومبر 2021.
2. Amira Jadoon او Andrew Mines، 'طالبان په یوازې ځان د اسلامي دولت پر ضد جګړه نه شي کولای' *War on the Rocks*، 14 اکتوبر، 2021.
3. Antonio Giustozzi، 'یوه نابلده ننګونه: طالبان څه ډول د افغانستان په پوهنتونونو کې د اسلامي دولت له ګواښ سره مخ کېږي'، RUSI Emerging Insights، مۍ 2023.
4. Michael J Boyle (ed.)، Non-Western Responses to Terrorism (Manchester: Manchester University Press, 2019)، pp. 470ff.

پر وړاندې له تاوتريخوالي ډکه ځپنه تر سره کړه. همدا راز دې ته هم پوښښ ورکوي چې طالبانو څه ډول د وسله وال مخالفت د مخنيوي هڅه کړې، دا مخالفين يې وګړو، اکمالاتي لارو او مالي جرياناتو ته له لاسرسي منع کړي دي. په اخر کې مقاله دې ته کتنه کوي چې ايا د طالبانو په نويو خواصو کې به د دې پوهې نښې وي چې د پخلاينې د کوم ډول پروګرامونو د جوړولو، يا د خواصو تر منځ جوړجاړي ته د رسېدو له لارې به ښايي د دوی اوږدمهالې شخصي ګټې په ښه ډول تر لاسه شي.

د تروريزم او ياغيتوب پر ضد ډېرې داسې هڅې نه شته، چې د بې رحمانه تاوتريخوالي ټولې بڼې يې له يوې مخې بندې کړي وي، له همدې امله د 'متقابلو' هڅو تحليل يو څه محتاطو وړتياوو ته اړتيا لري. په دې ځای کې لومړی ګټور توپير د توپيري او بې توپيره تاوتريخوالي تر منځ دی. يو داسې حکومت چې خپل تاوتريخوالی يې په خپلو دوښمنانو متمرکز کړی وي، دا روښانه پيغام ورکولای شي، چې د دې حکومت ننګونکی هر څوک به له وېرونکي برخليک سره مخ شي، په داسې حال کې چې سياسي چوپتيا (له مقاومت پرته د شتون حالت منل) ستاينه به شوې وي. چوپتيا ته هڅول، په داسې حال د کې چې د 'سخت دريځو' (د واکمن سيستم ضد عناصرو په توګه تعريف شوي دي) په نښه کول، بايد له دې امله د ګټې ليدلوری وي، ان که په بشپړ دول متشدد وي. له دې وروسته پوښتنه دا ده چې واکمن خواص بايد ولې له اغېزناکو (انتخابي) ځپلو څخه زيات د هر څه د تر لاسه کولو په اړه فکر وکړي. دا يوه مناسبه پوښتنه ده، په ځانګړي ډول هغه مهال چې له تاوتريخوالي ډکه شخړه لا دمخه پيل شوې ده. په دې نقطه کې، د ځپلو له يو شمېر بڼو څخه نوره ډډه نه شي کېدای. د بې توپيره تاوتريخوالي د يوې اوږدمهالې طريقې تعقيبول، د هر مخالف لپاره د نه تاوتريخوالي د بديلونو خپلول ستونزمن ګرځوي. په هر حال، ان تر دې چې د توپيري تاوريخوالي غوره کولو لپاره دا اړينه نه ده چې له تاوتريخوالي پرته بديلونو تعقيبول به اسانه کړي. په هر حکومت کې به مختلف لوبغاړي په دې اړه هر يو خپلې ارزونې کوي، چې د سخت دريځو افراطيانو او چوپتيا خوښو تر منځ پوله کومه ده، چې په پايله کې يې د دولتي ادارې او واکمنو خواصو تر منځ وېش منځ ته راتلای شي.

بل مهم توپير دا دی چې د تاوتريخوالي له لارې ځپل به د سيمه ييزو خواصو سره په همغږۍ، د بيا يوځای کېدو د سيمه ييزو معاملو له هڅو سره يا ملګرې وي يا به نه وي. دا ډول معاملې ډېر ځله يوازې پر تاوتريخوالي د تکيې پر ځای، د يو دولت د ثبات ډېره اغېزناکه اوږدمهاله طريقه بلل کېږي، لږ تر لږه له دې امله چې دا کولای شي د واکمنو او سيمه ييزو خواصو تر منځ اړيکې پيدا کړي، د کومو په پايله کې چې سيمه ييز خواص له مرکز سره ډېره ګټه تر لاسه کولای شي، تر څو په اغېزناک ډول د مرکز له خوا په خپلسري ډول د ځواک د کارولو مخه ونيول شي. [5] په ورته توګه، له ځپلو سره د خواصو تر منځ جوړجاړی هم يوځای کېدای شي، کوم چې د واک شريکول دي. [6]

له کومو سياسي امتيازاتو او مذاکراتو پرته، د زيات تاوتريخوالي له کارولو بغير د وسله وال مخالفت د ځپلو لارې هم شته. د بېلګې په ډول، په پراخه کچه پوځي ګومارنې، کوم څه چې د مناسبې کچې بشري قوت د شتون پر مهال، په بې توپيره ډول د پوځي ځواک پر استعمال له تکيې پرته تر لاسه کېدای

5. د Rachel Clogg او Michelle Parlevliet، 'Reconciliation in Focus: Approaching Reconciliation in Peacebuilding Practice', Conciliation Resources، March 2021؛ او د Sally Sharif، 'A Critical Review of Evidence from Ex-Combatant Reintegration Programs', Politics of Return Working Paper No. 2، نومبر 2018 وګورئ.
6. د دې په اړه Christine Cheng، Jonathan Goodhand او Patrick Meehan، 'Synthesis Paper: Securing and Sustaining Elite Bargains that Reduce Violent Conflict', Stabilisation Unit, اپریل 2018 وګورئ.

شي، شوني ده چې د سیمې نیولو او پر ولسونو د کنترول، د مخالفینو له خوا د نویو غړیو استخدامولو، پټنځایونو ته لارسي، روزنې، او اکمالاتو د لېږدولو د وړتیا د کمولو یا مخنیوي پایله ولري. په نورو ټکو کې، د دا ډول سترو عملیاتو موخه د دوښمن له منځه وړل نه، بلکې کېدای شي چې شنډول یې وي. د شنډولو په لارو چارو کې یوه بله غوره بېلګه مالي خنډونه دي، چېرته چې تاوتریخوالی ډېره کمه ونډه لري. دا لارې چارې په ځانګړي ډول واکمنو خواصو لپاره په زړه پورې وي، خو حتماً د دوی په لاسرسي کې نه وي. پر سیمه او ولسونو د پام وړ تسلط تر لاسه کولو لپاره یو پوځ اړتیا لري چې د مخالفو ځواکونو په پرتله د پام وړ فوقیت ولري، او د وسله والو مخالفینو لور ته د مالي جریاناتو د مخنیوي لپاره پېچلو استخباراتي وسایلو ته اړتیا ده. سربېره پر دې، شوني ده د شنډولو لارې چارې یو اوږد بهیر او ان تر دې چې کېدای شي کله بې پایلې هم وي، چې دا د مخالفینو تر مهارتونو پورې اړه لري. یو وسله وال مخالفت په ډېرو منفي حالاتو کې هم فعال پاتې کېدای شي، ان په هغه حالاتو کې هم چې ډېرو خلکو ته یې لاسرسی کم یا بیخي نه وي، او یاغیانو ته د نغدو پیسو د لېږدولو لپاره نوي کانالونه د تل لپاره د تخلیقي بندیزونو څخه سرغړونو ته په پام سره جوړېدای شي.

دا د واکمنو خواصو لپاره یو دلیل دی چې سیاسي لارې چارې په بشپړ ډول ختمې نه کړي. په سیمه ییزه کچه د بیا یو ځای کېدو معاملو او خواصو د جوړجاړي د اهمیت نه کمولو لپاره نور دلایل هم شته. د پخلاینې یا د خواصو تر منځ د واک د وېش پر سر معاملو کې پانګونې یو احتمالي هڅونه د واکمنو خواصو په لیکو کې دا شعور دی چې بې رحمانه ځپل، په لنډ مهال کې د مؤثریت سره سره، په بریالیتوب سره د مخالفت جرړې له منځه نه وړي، بلکې په راتلونکو نسلونو کې او یا له هغې څخه مخکې د بیا سر راپورته کولو سره مرسته کوي، او په دې ډول دولت کمزوری ګرځي. یوه بله احتمالي هڅونه دا ده چې ځپل په نامعلوم ډول دوام پیدا کولای، او له مهمو پراونو څخه تېرېدای شي، په داسې حال کې چې وروستی پایله یې ناڅرګنده وي، او واکمن خواص یې لوړ قیمت اداء کوي. په دا ډول شرایطو کې، د بې رحمانه ځپلو پر ځای نرم بدیلونه پام جلبولای شي.

دا مقاله درې څپرکي لري. لومړی یې د IS-K حالت او طالبانو ته د هغه ګواښ د بنې څېړنه کوي، چې د طالبانو له خوا له واک تر لاسه کولو وروسته یې هغو ته متوجه کړ، او دا چې طالبانو دا ګواښ څه ډول ارزولی دی. په دویم څپرکي کې په تفصیل سره دا بحث شوی چې طالبانو د IS-K له ننګونو سره د مبارزې لپاره څه ډول هڅه کړې او په څېل نوبت سره یې هره طریقه ارزولې ده: بې توپیره ځپل، توپیري ځپل، د شنډولو لارې چارې، سیمه ییزه پخلاینه او بیا یوځای کېدل، او د خواصو تر منځ جوړجاړی. دریم او وروستی څپرکی یې طالبانو ته د IS-K د غبرګون څېړنه کوي.

د سرچینو د خوندي کولو لپاره، نه د هغو کسانو نومونه یاد شوي دي چې مرکې ورسره شوې، او نه یې په خپلو سازمانونو کې دقیقې دندې روښانه شوي دي. د IS-K څخه مرکه شوي کسان یا د 'قوماندانانو' (له پنځو څخه تر 30 پورې سړیو تخنیکي ډلې مشران) یا د 'کدرونو' (د ولسوالی او ولایت په کچه مشران، یا د لوژستیکي یا مالي په څېر ملاتړو څانګو مدیران) په توګه ډلبندي شوي دي.

# ميتودولوژي

په داسې حال کې چې د طالبانو - IS-K شخړه اوس هم روانه ده، د دې مقالې هر ډول موندنې به يوازې جزوي او ابتدايي وي. د څېړنې لپاره غوره شوې عملي طريقه هم روښانه محدوديتونه لري: څېړنه حتماً تر شفاهي سرچينو پورې محدوده وه، چې د خبرونو د راپورونو او د تګلارې پر بنسټ تحليلونو – کوم چې همدا راز ډېر څله جزوي وي - محدود ملاتړ ورسره دی، او ابتدايي ليکلو سرچينو ته هېڅ لاسرسی نه دی موندل شوی، لکه د امارت تاريخچې، يا د IS-K کوم ډول داخلي اسناد.

پر دې موضوع څېړنې د ګڼو طريقو په اړوند جوړجاړيو ته اړتيا درلوده، ځکه چې د طالبانو تر واک لاندې افغانستان کې ابتدايي څېړنه ډېره ستونزمنه ده. د IS-K استخدام کونکي او غړي په حقيقت کې تر ټولو ستونزمن و چې خبرې ورسره وشي، په بنسټيز ډول له دې امله چې دوی ډېر زيات پټ دي. د پايلې په توګه، د راټولو شويو معلوماتو متن له شک پرته نيمګړی دی، او د ځانګړو موضوعاتو تعقيب شونی نه و. هغه تحليلونه چې په دې څېړنه کې راغلي دي، په الزامي بڼه سره دا موضوع منعکسوي. په هر حال، بايد په پام کې ونيول شي، کله چې د خپلوان، ملګري، همکار، يا يو د درناوي وړ شخص په څېر د کوم درېيم اړخ په واسطه رسېدګي او مناسبه پېژندګلو شوې ده، نو حتی بيا د IS-K غړي هم ډېر خبرې کونکي ثابت شوي دي. دا بايد د حيرانتيا خبره نه وي، ځکه چې له ادبياتو څخه معلومېږي د تاوتريخوالي څخه ډکو افراطي سازمانونو غړي عموماً په خپل غړيتوب وياړي او خپلو فعاليتونو په اړه غوږې وهي، ان په هغه وخت کې هم کله چې دوی په ډېر پټ ډول هم کار کوي، لکه په اروپا کې.[7] په همدې بنسټ د دا ډول څېړنې په وړاندې موجود ګواښ دا نه دی چې يو څوک لاسرسی نه شي پيدا کولای. په هرحال، يو شمېر نور ګواښونه شته: هغه دا چې کېدای شي هغه څوک د ټولنيزې هيله مندۍ له تعصب څخه اغېزمن شوی وي چې مرکه ورسره کېږي، د دې په پايله کې خپل برياليتوبونه، وړتياوې او/يا سرچينې زياتې ښيي؛ يا د معکوس دليل پر بنسټ، د سيالو سازمانونو په اړه له تعصب څخه ډکو معلوماتو وړاندې کولو سرچينې ښيي. د کمولو اقدامات په لاندې ډول تر بحث لاندې نيول شوي دي.

د طالبانو چارواکي په خپلو ځوابونو کې تر ډېره بريده هوښيار وو، خو د هغوی د داخلي تاوتريخوالي او اختلافاتو له امله، مرکه کېدونکو طالبانو هم ډېر څله غوښتل چې د شرم وړ تفصيلاتو په اړه بحث وکړي او خپلو تروريزم ضد او بغاوت ضد هڅو کې شته محدوديتونه ومني. مرکه شوي طالبانو ډېر څله د IS-K ګواښ کم ګڼلو، د دې ګواښ سره د مبارزې برخه کې شته پرمختګ ته يې هوا ورکړې وه، په داسې حال کې چې د IS-K سرچينې بالکل د دوی په عکس کې وې. دا متوقع وه، او په طالبانو او IS-K کې له ګڼو سرچينو سره د مرکو، او 20 مياشتو ته د دې څېړنې د غزولو، له لارې دې ستونزې ته حل لاره پيدا شوه، چې په دې سره د ځوابونو د ارزولو او باوري کولو سره مرسته وشوه. دا په ځانګړې ډول مهم او ګټور و، ځکه دې کار د بېلا بېلو سرچينو د باور لپاره د اعتبار ټکي چمتو کړل. د بېلګې په ډول، په ابتدايي ډول د طالبانو له خوا IS-K ته اعتناء نه کول ناسم ثابت شول، لکه څنګه

7. د Sam Mullins، *Jihadist Infiltration of Migrant Flows to Europe: Perpetrators, Modus Operandi and Policy Implications* (Berlin: Springer, 2018)، مخ. 103؛ د متحده ايالاتو د استازو مجلس، ‘Hearings Before the Subcommittee on Aviation of the Committee on Public Works and Transportation’، شپږنويم کانګريس، لومړۍ ناسته، د متحده ايالاتو حکومت د چاپ دفتر، 1979، مخ. 139، وګورئ. د تروزيزم ضد پوليسو افسرانو ليکوال ته ويلي دي چې د تاوتريخوالي څخه ډکو افراطي سازمانونو شکمن غړي اکثراً خپله ځان تورنوي، ځکه چې دوی په وياړ د خپلو فعاليتونو په اړه بحث ته ليواله وي.

چې د 2022 په لومړيو کې د IS-K د بريا انګېرني شوې وې. د سرچينو له خوا د چمتو شويو معلوماتو ټکي يوازې د وخت په تېرېدو سره يو د بل پر ضد ارزول کېدای شي، لکه د افغانستان شمال ته د IS-K د لېږدېدو د ادعاوو په قضيه کې.

په داسې حال کې چې ليکوال موضوع او موديې اړوند ادبيات په پام کې نيسي، دا مقاله په بنسټيز ډول د مرکو په مټ پر راټولو شويو تجرباتي معلوماتو متکي ده. دا د 2021 اګست مياشتې څخه د 2023 کال د اپريل د مياشتې تر منځ موده کې د شويو 54 مرکو د يوې لړۍ پر بنسټ جوړه شوې ده. د شخړې په دواړو اړخونو او له بې پرې افرادو، لکه مشرانو، علماوو، د IS-K پخوانيو غړيو، او د **حوالې**[8] تجارانو سره شوې مرکې، د متقابلو حوالو ډېر فرصتونه ورکوي. تفصيلات يې په لاندې جدول کې ورکړل شوي دي.

**جدول 1: د مرکو وېش**

| د مرکه کېدونکي ډول | شمېر |
|---|---|
| د طالبانو غړي او چارواکي | 14 |
| د IS-K قوماندانان او کدرونه | 14 |
| د IS-K پخواني غړي | 8 |
| سلفي مشران او علماء | 8 |
| حنفي مشران او علماء | 7 |
| د **حوالې** تجاران | 2 |
| سيمه ييز ژورنالستان | 1 |

سرچينه: د ليکوال له خوا جوړ شوی.

د څېړنې اصول، د تحقيقاتي ژورنالستيکې او توکم پېژندنې مرکه کولو يو ترکيب و. پوښتليکونه د هر مرکه کېدونکي سره په سمون کې جوړ شوي وو؛ په حقيقت کې 54 بېلا بېل پوښتنليکونه وو. د روانو تمايلاتو او پرمختګونو په اړه د پوهې پراختيا ته په کتنې سره پوښتنې چمتو کړای شوې وې.

دا مرکې په سيمه ييزو ژبو (پښتو، دري او ازبکي) کې درې افغان څېړونکو ته ورکړل شوې وې، او تر ډېره بريده افغانستان کې شوي دي، ځينې مرکې پاکستان کې تر سره شوي دي. دوه څېړونکي د سلفي ټولنې غړي وو، دا يو حقيقت دی چې همدوی د IS-K سرچينو ته د لاسرسي اسانتيا برابره کړه، او څېړونکو ته يې د منلو وړ بريده ګواښ کم کړ. ټولو څېړونکو د ژورنالزم او/يا څېړنې مخينه درلوده، او د مرکه کېدونکو د همدې ډولونو سره يې د څېړنو په پخوانيو پروژو کې برخه اخيستې وه، د دې ډول څېړنې مسئوليت منلو برخه کې روزول شوي وو، او د طالبانو او/يا IS-K له غړيو سره يې اړيکې يا شخصي/کورنۍ تعلقات درلودل، کوم چې مرکه کېدونکو ته د رسېدو او لاسرسي تر لاسه کولو برخه کې مهم ثابت شول.

دا خطر چې ځواب ورکوونکي دې وکولای شي له خپلو مرکو څخه د نفوذ يا د ناسمو واقعيتونو وړاندې کولو لپاره کار واخلي، له لومړي سره د يو احتياطي اقدام په توګه په پام کې ونيول شو. د ډول ډول

8. د پانګې غېر رسمي انتقال سيسم چې افغانستان او شا اوخوا سيمه کې ډېر عام دی.

مرکه کېدونکو – لکه د طالبانو یا IS-K غړیو، د IS-K د فعالیت په سیمه کې د سیمه ییزو ټولنو مشرانو، ملایانو او سوداګرو – په کارولو سره چا چې د متضادو نظریاتو استازولي کوله؛ له اشخاصو سره په جلا جلا ډول د مرکه کولو له لارې، په داسې ډول چې دوی نه و خبر چې نورې مرکې هم کېږي؛ او د ځوابونو د تایید لپاره داسې پوښتنو شاملولو په مټ چې ځواب یې له مخکې څخه معلوم و، دا خطر راکم کړای شو. دا په ځانګړي ډول مرستندوی ثابت شول چې مرکه کېدنکو ته داسې معلومات ورکړل شي چې له نورو سرچینو راټول شوي دي، لکه سیمه ییز مشران چې وایي د IS-K غړي له مالي اړخه له ستونزو سره مخ دي، او بیا له دوی څخه په دې اړوند تبصره غوښتل. د IS-K ډېری سرچینې د IS-K په اړوند په څرګند ډول د منفي پرمختګونو په اړه تر یو بریده په روښانه ډول له خبرو کولو ډډه نه کوي. د عامې حوزې سرچینې، لکه د رسنیو راپورونه او تحلیلي مطالعات، هم کارول شوي دي، چې چېرته یې شونتیا وه، تر څو د مرکه شویو خلکو باور وکتل شي. غوره شویو یو له بل سره نه پېژندل، تر څو د مرکو په موادو کې د څېړونکو تر منځ د جعلکارۍ په برخه کې د جوړجاړي د خطر مخه ونیول شي، د بېلګې په ډول، د داسې منځپانګې جوړول تر څو هغه څه وښیي چې شونې ده دوی باور لري چې د پروژې ټیم د همداسې څه اورېدل غواړي. ساحې ته د څېړنې لپاره د مرکه کونکي ټلل د تل لپاره یو خطر وي، په داسې حال کې چې پروژه له لرې ځایه مدیریت کېږي. په ساحه کې څېړنه کونکو ته دا هم ویل شوي و چې د دې هڅې موخه یوازې او یوازې د حقایقو معلومول و، او دا چې د ځانګړو پایلو په اړوند هېڅ راز امتیازات نه شته. بالاخره، د خپلواکو ماهرینو او په افغانستان کې د پرمختګونو د څارونکو حکومتي او نړیوالو ادارو له لارې د شونتیا تر بریده دا معلومات تایید شول، چا چې د دې موضوع حساسیت ته په کتنې سره د نوم د پټ ساتلو غوښتنه کړې وه.

مرکه کېدونکو ته ویل شوي و چې د دوی ځوابونه به په یوه خپرونه کې وکارول شي چې د ازاد لاسرسي وړ وي، د کومې خپرونې ډول چې مشخص شوی نه و. د دې مرکو یوه برخه په مخامخ ډول تر سره شوې او یوه برخه یې د ټلیفون له لارې تر سره شوې – ځینې مرکه کېدونکې داسې ځایونو کې و چې هغوی ته لاسرسی ستونزمن و. ټولې مصاحبې ناپېژانده دي او ټول هغه اطلاعات چې د مصاحبه کېدونکو د پېژندنې لامل ګرځي ایستل شوي دي.

# I. طالبان او IS-K: د دوښمنۍ سرچینې

د طالبانو او IS-K تر منځ شخړه په 2021 کې نه وه پیل شوې. د IS-K او طالبانو تر منځ ستونزې له هغه وخته راهیسې وې، کله چې د 2015 په جنورۍ کې IS-K فعالیت پیل کړ. د 2015 د مۍ تر میاشتې، دواړه سازمانونه په جګړه کې و، د سیمې پر سر یې سیالي کوله، خو تر څنګ یې د سخت دریځو جهادیانو د وفادارۍ پر سر هم په سیالۍ وو، که هغه افغانان وو، که پاکستانیان، د منځنۍ اسیا اوسېدونکي او که نور وو. هغه عناصر چې د نړیوال جهاد د تګلارې تر ډېر تاثیر لاندې راغلي وو، هغه څوک و چې احتمالاً د IS-K له خوا ډېر جذب کېدل، که څه هم د دې ډلې سلفي پیژندګلو ډېر خلک په شا کړل، چا به چې په بل صورت کې لېوالتیا درلوده. د طالبانو څو سوه غړي IS-K ته واوښتل، چې د ډېرو په منځ کې د نا ارامۍ د احساس لامل وګرځېدل. دا جګړې، چې تر ډېره بریده په کجکي او زابل (سویلي افغانستان)، ننګرهار او کونړ (ختیځ افغانستان) او درزاب (شمال لوېدیځ افغانستان) یې تمرکز درلود، د 2015-21 په ټوله موده کې رواني وې او کله کله یې ناورینونه زېږولي دي.[9]

په دې کلونو کې، دې دوه سیالو سرکښو سازمامونو د خپلو جنګیالیو ډلې درلودې چې په یو ډول نیمه منظمه جګړه کې سره په نښته کې ښکېل وو. ښه منظم IS-K، د طالبانو د کمو روزل شویو سیمه ییزو ملیشو پر وړاندې په 2015-18 کې ډېر منظم و، خو په 2019-20 کې هغه مهال وضعیت بدلون وموند، کله چې طالبانو په ختیځ افغانستان کې د IS-K د مرکزونو پر ضد د خپلو پیاوړو واحدونو په استولو پیل وکړ. [10] له هغې وروسته او د 2021 د اګست تر میاشتې، IS-K د طالبانو سره له مخامخ ټکر څخه لېرې پاتې شو، د ختیځ په ډېرې لېرو سیمو کې یې د زیات خوندي ځای لټه کوله، او په دې واقعیت یې حساب کاوه چې طالبان لا هم په بنسټیز ډول د افغانستان اسلامي جمهوریت د حکومت سره په جګړه بوخت و

9. د 2021 د اګست له میاشتې مخکې د طالبانو او IS-K تر منځ د شخړې په اړه لاندې مراجع وګورئ، Borhan Osman, 'The Shadows of "Islamic State" in Afghanistan: What Threat Does it Hold?', Afghanistan Analysts Network (AAN), 12 February 2015; Borhan Osman, 'The Islamic State in "Khorasan": How it Began and Where it Stands Now in Nangarhar', AAN, 27 July 2016; Borhan Osman, 'Descent into Chaos: Why Did Nangarhar Turn into an IS Hub?', AAN, 27 September 2016; Borhan Osman, Bourgeois Jihad: Why Young, Middle-class Afghans Join the Islamic State (Washington, DC: United States Institute of Peace, June 2020); Abdul Sayed, 'Islamic State Khorasan Province's Peshawar Seminary Attack and War Against Afghan Taliban Hanafis', Terrorism Monitor (Vol. 18, No. 21, 20 November 2020); Casey Garret Johnson, 'The Rise and Stall of the Islamic State in Afghanistan', United States Institute of Peace (USIP) Special Report No. 395, November 2016; Antonio Giustozzi, The Islamic State in Khorasan: Afghanistan, Pakistan and the New Central Asian Jihad (London: Hurst, 2022); Katja Mielke and Nick Miszak, 'Making Sense of Daesh in Afghanistan: A Social Movement Perspective', Bonn International Centre for Conflict Studies Working Paper No. 6, 2017.

10. عبید علي او خالد غرنی، 'له څو اړخونو څخه ضربه(2): په کونړ کې د ISKP مړینه'، AAN، 3 مارچ 2021؛ عبید علي، 'له څو اړخونو څخه ضربه 1: په ننګرهار کې د ISKP پر ضد د وروستی بریا راسپړل'، AAN، 1 مارچ 2020.

د 2015 د مۍ په مياشت کې د دواړو سازمانونو تر منځ له تاوتريخوالي يو څه موده وروسته، IS-K ډېر تبليغات پر لار وانه اچول. دا يوازې په وروستيو کلونو کې وه چې IS-K د طالبانو پر ضد د تبليغاتو پراخه کمپاين پر لار واچاوه، او هم د يوې جهادي ډلې او هم د مذهبي باورونو په برخو کې يې د دوی باور وننګولو، په ځانګړي ډول هغه مهال کله چې IS-K وليدل چې دوی اسلامي قانون په کمزوري ډول پلی کوي.[11] د سلفيت، کوم چې د اسلامي اصولو يوه سوچه بڼه ده، او حنفيانو – په ځانګړي ډول ديوبنديان او همدا راز صوفيان- د پلويانو تر منځ درزونو، د دې شخړې په زياتولو کې مرسته وکړه.[12] که څه هم ويل کېږي چې ديوبنديان د سلفيت تر اغېز لاندې دي، خو سلفيان هغوی د اسلام د يوې غېر سوچه بڼې عملي کونکي بولي. دا باور همدا راز د صوفيانو په اړه هم رېښتينی دی. که څه هم په 2015 کې له راڅرګندېدو وروسته، IS-K په لومړي سر کې په دې هيله خپله سلفي-جهادي ايډيالوژي په کمه کچه پلې کړه تر څو ډېر پلويان د ځان لور ته متوجه کړي، دې ډلې کرار کرار سخت دريځی سلفي تشخص ونيو. له بلې خوا طالبان د وخت په تېرېدو سره ډېر متنوع وګرځېدل، په ځانګړي ډول د اخوان المسلمين (Muslim Brotherhood) مخينې لرونکي ډېر غړي يې له ځانه سره شامل کړل، په داسې حال کې چې لوړ مشرتابه يې په اساسي ډول د ديوبند تر اغېزې لاندې وو، چې د صوفيت پياوړی اغېز هم پکې و. په داسې حال کې چې د 2003 او 2015 تر منځ کلونو کې د پام وړ شمېر سلفيان هم د طالبانو له جهاد سره يوځای شوي وو، له 2015 وروسته ډېری يې د ISK لور ته ميلان درلود.[13]

11. Abdul Sayed، 'د اسلامي دولت خراسان پر ضد د طالباو جګړه' (The Taliban's Battle Against Islamic State' Khorasan')، Inkstick، 30 اګست 2202، وګورئ.
12. Muhammad Moj، **د ديوبند مدرسي خوځښت : متضاد کلتوري تمايلات او رجحانات** (London: Anthem Press, 2015)؛ Borhan Osman، 'د ذهنونو لپاره د ISKP جګړه: د هغې بنسټيز پيغامونه څه او دوی پر چا بريدونه کوي؟'، AAN، 12 ديسمبر 2016، وګورئ.
13. د Abdul Sayed، Pieter Van Ostaeyen او Charlie Winter، 'د افغان طالبانو پر ضد د اسلامي دولت د جګړې فهم' ، *Current Trends in Islamist Ideology* (ټوک. 30، اپريل 2022)، مخ. 19-34، وګورئ.

# II. په 2021 کې د IS-K د ننګونې د حجم زیاتېدل

## د IS-K بشري ځواک

دا د اوږد مهال لپاره د بحث یوه موضوع وه چې IS-K تر کومه بریده افغانستان کې د واکمنو لپاره د یوې ننګونې استازولي کوي، که هغه پخوانی حکومت وي، یا طالبان. د بېلګې په ډول، د ملګرو ملتونو تحلیلي ملاتړ او بندیزونو څارنې ټیم (The UN Analytical Support and Sanctions Monitoring Team)، کوم چې د غړیو هېوادونو له خوا پر چمتو شوي ارزونې تکیه لري، د وخت په تېرېدو سره په پرله پسې ډول کم او زیات شمېر ښودلی دی. د IS-K د خپلو داخلي سرچینو په وینا، د IS-K مشرانو د 2021 په جولای کې 8000 سرتېرو یو ځواک درلود. له دوی څخه:

- یوازې له 1100 څخه زیات یې پاکستانیان وو.
- پاتې ځواکونو ډېریو یې په ختیځ افغانستان (ننګرهار، کونړ او نورستان) کې تمرکز درلود، چېرته چې د IS-K له نږدې 3700 غړیو څخه د دې ډلې جنګیالیو ځواکونو ډېره برخه له یو شمېر کلیوالي ملېشې او د دې ډېر اداري جوړښت، د مالي او لوژستیکي برخو سمبالولو، د ګومارنو تعقیب کولو، ټاکنو کولو او د انتقالاتو پرېکړه کولو، د روزنې او ترتیب پلان کولو، او نورو موخو لپاره شامل وو. له دې سیمې څخه، پاکستان ته او ورڅخه تګ او بېرته راتګ، د نږدې پولې څخه د اوښتو له امله اسانه و.
- بل مهم تمرکز په شمال ختیځ کې و، تر ډېره بریده په بدخشان کې، په داسې حال کې چې دې سیمه کې شا اوخوا 1200 غړي موجود وو. په دویم تمرکز کې ښه روزل شوي جنګيالي ځواکونه او ځینې اداري تاسیسات شامل وو، خو په دې موده کې له نظامي اړخه ډېر فعال نه وو، او د دې پر ځای یې په منځنې بدخشان، په ځانګړي ډول د خستک په دره کې، د ټیټ تشخص ساتلو هڅه شوې وه.
- له زندان څخه د IS-K له تښتېدلو یو څو سوه بندیانو پرته، د ختیځ پر لور د IS-K تلونکي نور ځواکونه (شا اوخوا 1300-1400 سرتیري) په دې نقطه کې په بنسټیز ډول د سویل، سویل ختیځ د کابل په شا اوخوا سیمه، لوېدیځ او په مرکزي سیمو کې خپاره وو، چېرته چې هغوی پټ کار کاوه، جلب او جذب یې کاوه او په ښاري سیمو کې یې تروریستي بریدونه تنظیم کول.[14] په ګڼو ولایتونو کې، لکه کاپیسا، لوګر، غزني، پکتیا، پکتیکا، او خوست، IS-K یوازې یو څو سلګونه کم شمېر غړي درلودل، دوی ته د جلب او جذب، استخباراتو راټولولو او په راتلونکي کې د پراختیا لپاره د شرایطو برابرولو هدف ورکړل شوی و.[15]

---

14. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، اګست 2021.
15. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022.

دا شمېرې تر ډېره بریده د هغو شمېرو سره د پرتلې وړ دي چې د ملګرو ملتونو د غړیو هېوادونو د استخباراتي ادارو له خوا ورکړل شوي دي، کوم چې د 2021 کال د وروستۍ برخه کې د IS-K غړیتوب 4000 تنه ښیي.[16] د ملګرو ملتونو د څار کمیټې (UN monitoring committee) له خوا راټول شوي معلومات، په احتمالي ډول د IS-K د ډېرې ملموسې برخې، یعنې افغانستان کې د مېشتو تل چمتو (بشپړ وخت) جنګیالیو اړوند وي. لکه چې د IS-K سرچینو یې تفصیل ورکړی، چې د پورته ورکړل شویو شمېرو څخه نږدې دوه برخې (نږدې 4600) په افغانستان کې مېشت سرتیري دي. له دوی څخه یوه برخه یې کلیوالي ملیشې (په همدې بنسټ بهرنیو لیدونکو ته تر یو بریده د لیدو وړ نه وې) وې، او یو څو سوه غړي د تروریستي بریدونو ټیمونه وو.[17]

د IS-K سرچینو د کابل له سقوط وروسته په لومړیو میاشتو کې د طالبانو له لیکو څخه په لوړه کچه د جلا کېدو ادعاوې کړې وې.[18] تر هغه وخته پر IS-K اغېز کونکي د روحیاتو ستونزو ته په کتنې سره دا ډول لاره بدلول د حیرانتیا وړ و (لاندې وګورئ)، او په حقیقت کې دا په لویه کچه له مبالغې ډکې ادعاوې ښکاري. کله چې د اګست 2021 څخه وروسته له طالبانو څخه IS-K ته تلونکو په اړه پوښتنه وشوه، د IS-K سرچینې د وړاندې کولو لپاره ډېر کم معلومات درلودل، او یوازې په کونړ کې یې د پنځو، ننګرهار کې د درې او خوست کې د یو تن ټیټې کچې طالبانو قوماندانانو یادونه وکړه، چې له IS-K سره یوځای شوي وو.[19] د امارت په سیمه ییزو ملیشو کې یوې سرچینې ومنله چې د طالبانو له لیکو څخه IS-K ته تلل د طالبانو له خوا د واک تر لاسه کولو وروسته په لومړیو میاشتو کې تر سره شوي دي، خو شمېر یې ډېر محدود و.[20] لږ تر لږه د سیمه ییزو سرچینو څخه تر ټولو مهم تصدیق شوی جلاوالی په ننګرهار کې قوماندان منصور حصار و له هغه سره پنځه ټیټ رتبه قوماندان او 70 جنګیالي وو، او د 2021 اګست په وروستیو کې جلا شو.[21] په طالبانو کې یوې بلې سرچینې یوازې دا تایید کړه چې د واک تر لاسه کولو څخه وروسته په لومړیو ورځو کې، د دوربابا او حصارک په ولسوالیو کې د طالبانو دوه قومانانان IS-K ته ورغلل: ملا یعقوب او عالم شمسي.[22] په ټولیز ډول ډېر کم انحرافات موجود وو (په ځانګړې ډول کله چې د طالبانو ټول بشري ځواک په پام کې ونیول شي)، او دوی د IS-K په ځواک کې ډېر کم زیاتوالی راوست، او په دوی کې کوم د لوړو مشخصاتو افراد شامل نه وو، له همدې امله د IS-K د تبلیغاتي ماشین د کار لپاره یې ډېر کم څه په واک کې ورکړل.

# د IS-K مالي سرچینې

داسې ښکاري چې په دې موده کې د IS-K فعالیتونه د مالي نیمګړتیاوو څخه اغېزمن شوي و. سرچینې وايي چې د 2021 له وروستیو څخه د 2022 تر لومړیو پورې، د دې ډلې مالي منابعو فعالیتونه په ناوړه ډول خرابه شوي وو.[23] په دې موده کې، او د طالبانو له تورونو سره په سمون، د IS-K سرچینو د

16. د ملګرو ملتونو امنیت شورا، د ISIL (داعش)، القاعده او له دې سره تړلیو افرادو او ادارو سره اړوند قرارداد 2368 (2017) تر مخې، وړاندې شوي تحلیلي ملاتړ او بندیزونو د څارنې ټیم د انسیتیتوت راپور، S/2022/83، 3 فبروري 2022.
17. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، اګست 2021.
18. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022.
19. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، جون 2022.
20. د امارت د ولایتي اداري له چارواکي سره مرکه، ننګرهار ولایت، جنوري 2023.
21. د افغان ژورنالست سره مرکه، اګست 2021.
22. د طالبانو له قوماندان سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2022.
23. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022.

پاکستان د پوځ او استخباراتو له عناصرو سره د اړیکو ادعا کړې وه، او دا سازمانونه په پاکستان کې د 'اسلامي بسپنه ورکونکو' ادارو څخه د پیسو راټولولو لپاره، د IS-K د هڅو لپاره په لوژستیکي مرستې او ملاتړ باندې بدل شوي وو.[24] په هر حال، دا ممکنه نه وه چې دا تورونه تایید شي.

## د IS-K روحیات

کله چې طالبانو واک په لاس کې واخیست، د IS-K په لیکو کې د جګړې د پرېښودلو اندونه پراخه خپاره وو.[25] د IS-K د اوو غړیو څخه نږدې ټولو یې چې مرکې ورسره شوې وې، وویل چې دوی IS-K ته د دې لپاره میلان پیدا کړی و چې د 'امریکایي صلیبیانو' سره جګړه وکړي، نه د طالبانو سره. شونې ده چې د اګست 2021 څخه وروسته دې چارې د روحیاتو په غورځېدو کې ونډه درلودلې وي – په داسې حال کې چې شونې ده ځواب ورکونکو هم د طالبانو لپاره د کوم ډول کرکې کمول غوښتي وي، کومو چې دوی ته شونې ده ځای ورکړی وي. طالبانو په هېواد کې له جګړې څخه له ستړتیا، د سلفي ټولنې په منځ کې د دې ستړتیا په ګډون، هم ګټه اخیستې وه. ان هغه مشرانو چې پر طالبانو یې نیوکې درلودې، دا خوښې ښکاره کړه چې جګړه درېدلې ده.[26] په 2019-20 کې طالبانو له خوا IS-K ته ماتېدونکې ګوزار هم د دې اغېز یوه برخه وه.[27] د اسلامي جمهوریت د ګډوډۍ په وروستیو ورځو کې د افغانستان زندانونو له خالي کېدو وروسته، د ټیټو روحیاتو یوه بله اشاره د IS-K د ډېرو بندي غړیو په دې ډله کې له بیا شاملېدو څخه انکار و. هغه مهال د IS-K سرچینو ادعا کړې وه چې د اګست 2021 له ګډوډۍ وروسته، له دولتي زندانونو څخه تېښتېدلي زرګونه افراد بیا په خپلو لیکو کې شامل شوي وو.[28] په هر حال، دا روښانه ده، چې د دې ادعاوو په عکس، ډېری یې مطلقاً بېرته یوځای نه شول، خو پټ شول، او هڅه یې دا وه چې له دواړو IS-K او طالبانو څخه پاک پاتې شي (د IS-K په ځواک د تښتېدلو د اغېزو د کمښت په اړه لاندې وګورئ). سربېره پر دې داسې ویل کېدای شي چې ټول پخواني غړي په څرګند ډول په دې خبر و چې دوی د ټیلیګرام له لارې له IS-K سره د بیا یوځای کېدو لپاره اړیکه نیولای شي، خو ډېرو له دې فرصت څخه ګټه وانه خیسته.[29] د کړکېچ نړیوالې ډلې (International Crisis Group) له خوا د طالبانو مرکه شویو چارواکو د تښتېدلو شمېر په سلګونو کې وښود، کوم چې په IS-K کې بېرته شامل شول، نه هغه چې ځینو سرچینو دا شمېر په 'زرګونو' کې ښودلی و.[30]

---

24. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022.
25. د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
26. له سلفي **عالم** (دیني عالم) سره مرکه، کونړ ولایت، اپریل 2023؛ د سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.
27. په 2020-21 کې، د IS-K د غړیو او د جماعة الاحرار په څېر اتحادي سازمانونو د غړیو سره شویو مرکو په دې رڼا اچولې وه، چې دې ماتو د دې سازمان روحیات څه ډول مات کړل. په 2021-22 کې د سلفي ټولنې له غړیو سره شویو نورو مرکو دا تایید کړه چې په دې ټولنه کې د ډېرو خلکو دا باور هم د دې ماتو له امله منځه ولاړ، چې ګوندې IS-K د دوی ساتنه کولای شي.
28. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022. د زندانیانو په اړه د ادعاوو/اټکلونو په اړه، د Amira Jadoon، Abdul Sayed او Andrew Mines، 'د طالبانو په افغانستان کې د اسلامي دولت ګواښ: د اسلامي دولت خراسان د بیا راپورته کېدو موندل'، *CTC Sentinel* (ټوک 15، شمېره 1، جنوري 2022)، مخ. 37، وګورئ.
29. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، جوزجان ولایت، اکتوبر 2022.
30. د کړکېچ نړیواله ډله (International Crisis Group)، 'د طالبانو تر واک لاندې د افغانستان د امنیت ننګونې'، راپور شمېره 326، اګست 2022.

# طالبانو IS-K څه ډول ارزولی و

د طالبانو له خوا د IS-K د ابتدايي ګواښ له پامه غورځول، د کوم ډول زغم له امله نه و. ډېرو لوړ پوړو طالبانو IS-K ته د یو نیابتي سازمان په توګه کتل، چې د پخواني حکومت د امنیتي ادارو او/یا ګاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو، په ځانګړي ډول پاکستان له خوا، د بغاوت د خپرولو او طالبانو د کمزوري کولو په نیت جوړ شوی، یا په دې ډول کارول شوی و. طالبانو ګومان کاوه دا چې پخوانی حکومت له منځه تللی دی، او جګړه ګټل شوې ده، IS-K به د مهمو ملاتړو سرچینو د نه شتون له امله سخت کمزوری شي.[31] سربېره پر دې، د طالبانو باور دا و چې IS-K د وګړو د مرکز له کمښت سره مخ و

> سلفي علماء او ملایان یوه ستونزه ده، چا چې په خپلو سلفي پیروانو کې د نفاق تخم کرلی او د حنفیت په اړه ډېره منفي نظریه ورکوي... په داسې حال کې چې عادي سلفي کلیوال، څوک چې له داعش [IS-K] او [سلفي] علماوو سره هېڅ اړیکې نه لري، د [طالبانو] سره اړیکې ډېرې ښې دي.[32]

یو باور دا هم و چې خلک د هغه معاشاتو له امله له IS-K سره یوځای شوي وو چې هغوی تادیه کولای شول، چې دا د بهرنیو ملاتړو د سخاوت له امله ممکن و.[33]

له همدې امله د طالبانو مشرتابه په ابتدايي ډول د IS-K له خوا وړاندې شوې ګواښ د کم آتکل کولو لور ته میلان درلود. په ورته وخت کې، په داسې حال کې چې IS-K په اګست 2021 کې د یو ستراتیژیک ګواښ په توګه نه و بلل شوی، بیا هم له دې سره سره د **'خوارجو'**،[34] د یو پیاوړي مخالف او د سولې نه وړ سازمان په توګه بلل شوی و، د چا په وړاندې چې د امارت چارواکو ته حکم شوی و چې پر وړاندې یې **'هجومي او جدي'** ګامونه واخلي.[35]

31. د طالبانو پخوانیو چارواکو سره شخصي اړیکې، دوحه، فبروري 2023؛ د امارت د پولیسو له افسر سره مرکه، کونړ ولایت، اپریل 2022؛ د IS-K له کدر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2022.
32. د امارت د پولیسو له افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
33. د طالبانو له قوماندان سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2022.
34. دا ټکی په اصل کې د اوومې پېړۍ یوه اصطلاح ده، چې د 'پرېښودونکي' یا 'ډلبازان' معنا لري، د همدې پېړۍ په دویمه نیمایي کې یوې فعالې بغاوتګرې ډلې ته اشاره کوي.
35. د امارت د ولایتي ادارې د امنیتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023. همدا راز 'د اسلامي دولت خراسان پر ضد د طالبانو جګړه'، هم وګورئ.

# III. د IS پر ضد د طالبانو مبارزه

په دې څپرکي کې به د IS پر ضد هغه پنځه مهمې لارې چارې تر بحث لاندې ونيول شي، چې طالبانو د اګست 2021 څخه وروسته خپلې کړې وې، لکه چې په پېژندنه کې وړاندې شوي دي: بې توپيره ځپل؛ توپيري ځپل، د شنډولو لارې چارې؛ د پخلاينې معاملې؛ او د خواصو جوړ جاړی.

## بې توپيره ځپل

په تېر کې طالبانو استدلال کړی و چې په 2001-04 کې د افغان او امريکايي امنيتي ځواکونو له خوا بې توپيره غچ اخيستل او ځپلو ډېر خلک د ياغيانو ليکو ته بوتلل. د بغاوت ځپلو سيمو مشرانو د دې نظرياتو ملاتړ کړی و. 36 کېدای شي له دې امله چې په هغو کلونو کې د طالبانو ډېر کم سيمه ييز چارواکي په دې سازمان کې فعال وو، دوی اوسمهال له هغو روښانه درسونو څخه غافل دي، چې له هغې تجربې څخه بايد واخيستل شي. په حقيقت کې، د طالبانو ځينو چارواکو هڅه کړې وه چې د IS-K د ملاتړو شبکو او چاپېرياليانو په ځپلو سره هغوی کمزوري کړي.[37] د طالبانو ډېر مشران او کدرونه مخکې له IS-K سره جنګيدلي وو، او له دې سازمان څخه يکې ژوره کرکه پيدا شوې وه، کوم چې د ځېرنيز تيم نږدې په ټولو مرکو کې ځرګندېږي. ځينو خلکو له سلفي ټولنې سره هم سخته دوښمني درلوده، چې دوی پوهېدل چې د IS-K ډېری افغان غړي له همدې ټولنې څخه دي. ځينو طالبانو سلفي ټولنه له IS-K سره برابره بلله. حقيقت دا دی چې په 2008-09 کې په ختيځ کې د خپل بغاوت له خپرولو راوروسته راهيسې، له سلفيانو سره د طالبانو سخت ټکر راغلی و، چې دې مورد دې منفي نظرياتو په پياوړي کولو کې مرسته وکړه.

په ځينو حالتونو کې، بې توپيره ځپل يوازينۍ خپلواکه لاره وه. واک ته له رسېدو وروسته د ځپلو په ابتدايي څپه کې د دې ليدلوري تر ټولو غوره بېلګه د کونړ والي حاجي عثمان ترابي و، چا چې سلفيت او IS-K د يو ځای کولو ميلان ځرګند کړ. اوسمهال د طالبانو ډېر غړي مني چې ترابي 'له نظرياتي اړخه د سلفيت خلاف دی' او 'ډېر سلفي ملايان يې وژلي دي'.[38] ترابي باور درلود چې هغه پوهېږي د IS-K د ملاتړ لپاره مرکزي سيمې کومې وې، او د سيمه ييزو ملاتړو شبکو د ړنګولو لپاره يې اقدام وکړ، تر څو سلفي مدرسې او مسجدونه بند کړي.[39] دا هر څه د نوموړي پر ضد د غم او غوسې لامل وګرځېدل، او سلفي علماوو کابل ته د شکايت لپاره يو پلاوی واستاوه.[40]

36. د خپلو دوښمنانو د تاکتيکونو په اړه د طالبانو د ارزوني په اړه، Antonio Giustozzi، **طالبان په جګړه کې**: 2001-2021 (London: Hurst, 2022)، څپرکی 1، وګورئ.
37. د 'چاپېريال' په يو ځانګړي چاپېريال کې شته ټولنيزو، مذهبي او سياسي نظرياتو ګډولي ته وايي.
38. د امارت د ولايتي اداري له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
39. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023؛ د سلفي ټولنې له غړي سره مرکه، کونړ ولايت، سپټمبر 2021؛ له سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولايت، اکتوبر 2021.
40. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.

په نورو حالتونو کې، بې توپيره څېل د IS ضد نورو لارو چارو سره همغږي کړای شول. په جلال اباد کې د IS-K د فعاليتونو د کمزوري کولو په هڅې سره، چې د IS-K د ښاري ترهګرۍ د کمپاين يو مهم مرکز و، طالبانو په ننګرهار کې د IS-K د پټو شبکو او د خواخوږو چاپيرياالونه په نښه کړل. دا کمپاين په ابتداء کې ډېر له تاوتريخوالي ډک و. يو کادر چې IS-K ته بې رحمه رسېدو کې يې دلته خپل شهرت پيدا کړی و، قاري بشير و، څوک چې د 2021 په سپتمبر مياشت کې د ننګرهار ولايت لپاره د طالبانو د استخباراتو رئيس شو، د استخباراتو عمومي رياست (GDI)، او د 2022 کال په اوږدو کې يې دلته دنده تر سره کړه. بشير په ننګرهار کې د سلفيانو ډېری مدرسې او مسجدونه بند کړل.[41] د بشير تر مشرتابه لاندې، طالبانو په ننګرهار کې ډېر فعال ليدلوری خپل کړ، په کوم کې چې د پراخه کچې عمليات او سخت کور په کور پلټنې تر سره شوې، او ډېر خلک ونيول شول.[42] د نوموړي د ماموريت پر مهال د تورنو ډېرې سارايي اعدامونه تر سره شول.[43] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه ماموريت له اکتوبر څخه تر نومبر 2021 په موده کې، د IS-K د شکمنو افراودو د 59 تاييد شويو اعدامونو خبر ورکړی دی، چې ډېری يې ننګرهار کې دي.[44] د بشري حقوقو څار اداره وايي چې په ننګرهار کې د اګست 2021 څخه د اپريل 2022 تر منځ موده کې له 100 ډېر شکمن خلک وژل شوي دي.[45] د سلفي ټولنې مشرانو د 2022 په فبرورۍ کې تاييد کړه چې له اکتوبر څخه تر نومبر پورې موده کې د دې ټولنې نږدې 100 غړي د تاوتريخوالي په دې څپه کې وژل وشي دي، چې ډېری يې ننګرهار کې دي. په دوې کې لوړ پوړي سلفي خطيبان هم شامل وو. نور يې وتښتېدل يا پټ شول.[46]

دا روښانه ده چې ډېر تاوتريخوالی د بشير له خوا تنظيم شوی و، په څرګند ډول د دې لپاره چې د IS-K د ملاتړ شبکې او د هغې سره شته شا اوخوا چاپيريال – ممکن ټوله سلفي ټولنه – ووېروي، تر څو له IS-K سره د دوی د اړيکو د پرې کولو په بدل کې له امارت سره د هغوی د امنيت خوندي کولو لپاره مذاکراتو ته اړ کړي. دا ليدلوری له دې سره سمون لري چې د پخواني حکومت ځينې پياوړيو خلکو درلود، لکه په کندهار کې عبدالرازق، څوک چې د کلونو د پرله پسې او سخت فشار څخه وروسته بريالی شو چې سيمه ييز طالبان له ځان سره مذاکراتو ته چمتو کړي. [47] د طالبانو د پخلاينې هڅې په لاندې ډول په ډېر تفصيل سره تر بحث لاندې نيول شوي دي.

---

41. د امارت د ولايتي ادارې د امنيتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
42. د طالبانو له قوماندان سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2022؛ د امارت د ولايتي ادارې له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.
43. د بشري حقوقو د څار اداره، 'افغانستان: طالبان تورن ياغيان اعداموي، "ورکوي"، 7 جولای 2022؛ ابوبکر صديقي، 'څومره چې د IS-K پر ضد جګړه سختېږي، طالبان د افغان سلفيانو پر ضد خونړۍ ځپنه پيلوي'، Radio Azadi، 22 اکتوبر 2021.
44. افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه ماموريت (UN Assistance Mission in Afghanistan)، 'افغانستان کې د بشري حقوقو اداره (Human Rights in Afghanistan)، 15 اګست 2021-15 جون 2022'، جولای 2022، مخ. 15.
45. بشري حقوقو د څار اداره، 'افغانستان طالبان تورن وسله وال اعدام او "ورکوي".
46. له سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولايت، فبروري 2022.
47. د Carter Malkasian، **افغانستان کې امريکايي جګړه: يو تاريخ** (Oxford: Oxford University Press, 2021)، 13 څپرکی؛ عبدالله اچکزی، 'شونې ده د طالبانو ډېر مشران د سولې له پروسې سره يوځای شي: Gen. Raziq'، Tolo News، 2 سپتمبر 2017.

# توپیري ځپل

په کونړ کې د حاجي عثمان ترابي له خوا د بې توپیره ځپلو په لړ کې پورته بیان کړای شوي غم او غوصې له امله د امارت چارواکو د هغه د لېرې کولو او د هغه پر ځای د لوګر اوسېدونکي مولوي قاسم ګومارلو پرېکړه وکړه، چا چې د طالبانو د بغاوت پر مهال د کونړ د تش په نوم والي په توګه دنده تر سره کړې وه (21-2002). قاسم په کونړ کې مشهور نه و، چېرته چې سیمه ییزو طالبانو د یو سیمه ییز **طالب** والي د ټاکلو غوښتنه وکړه. داسې ښکاري چې هغه د کابل له خوا له دې امله ټاکل شوی دی، ځکه هغه د هغوی په دې غوښتنه عمل کولو لپاره چمتو دی، چې په غېر ضروري ډول د سلفیانو مخالفت کولو څخه ډډه وکړي، په همدې بنسټ د ډېر توپیري ځپلو پر لور لېږدېږي. د امارت مشرتابه وړاندې ولاړ، ان تر دې چې ډېر خفه ترابي له خپلو پلویانو سره له طالبانو له جلا کېدو ګواښ وکړ.[48]

د ترابي ګوښه کولو څخه معلومېږي چې په کابل کې مشرتابه د سلفي علماوو د غبرګون په اړه سخت اندېښمن و.[49] په هر حال، د توپیري ځپلو پر لور تګ هېڅکله هم یوه اسانه لاره نه وه. ان که له 2021 وروسته بې توپیره ځپل کم هم شول، ډېر زیان رسېدلی و، ځکه چې ځپلو په سلفي ټولنه کې دا احساس پیدا کړی و، چې نوی حکومت د دې ټولنې لپاره یو ګواښ دی.[50]

سربېره پر دې، د توپیري ځپلو نوې تګلاره چې د ترابي له ګوښه کولو وروسته منځ ته راغله، په ځانګړي ډول د طالبانو د چارواکو په منځ کې مشهوره نه وه. د طالبانو په لیکو کې له دې څخه انکار موجود و چې بې توپیره ځپل شوي دي. د یو پولیس افسر په ټکو:

> اسلامي امارت د تل لپاره عادي کلیوالو سلفیانو [چې د IS-K سره یې تړاو نه درلود] ته ویلي چې د دوی له ډلې سره کومه ستونزه نه لري، تر هغه وخته چې دوی د افغانستان دوښمن، داعش **خوارج** څخه ملاتړ نه وي کړي... هغه سلفیان چې د طالبانو له خوا نیول شوي یا وژل شوي دي، دوی له داعش **خوارجو** سره کوم ډول اړیکې یا تړاو درلود.[51]

له انتظار سره سره، بیا هم دا شکونه موجود وچې نوې تګلاره مناسبه ده. د GDI یو افسر تبصره کړې: '[د یو شمېر سلفي علماوو او ملایانو په اړه] زه شک لرم'، خو موږ هېڅ اقدام نه شو کولای، ځکه زه ثبوت نه لرم... په کابل کې د طالبانو مشرتابه هڅه کوي چې په کونړ کې د سلفي علماوو او مشرانو لپاره ستونزې پیدا نه کړي'.[52]

48. د طالبانو له چارواکي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2022؛ د سیمه ییز مشر سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2022.
49. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.
50. له سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ له سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ له سلفي **عالم** سره مرکه، کونړ ولایت، اپریل 2023؛ له سلفي **عالم** سره مرکه، کونړ ولایت اپریل، 2023.
51. د امارت د پولیسو له افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
52. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.

يو شمېر نور چارواکي په خپله نيوکه کې ډېر څرګند وو. لکه چې يو پوليس افسر تبصره وکړه، 'د سلفيانو او داعش ايډيالوژي يو شان دي، نو دوی بيا ولې له داعش ملاتړ ونه کړي؟'، دا په دې معنا وه چې ټوله سلفي ټولنه يو امنيتي ګواښ دی. دې افسر د ټولو سلفي مدرسو او ښوونځيو د بنديدو ملاتړ وکړ، او په هغه څه يې نيوکه وکړه چې نوموړي د امارت د نرم ليدلوري په توګه باله، د کوم لامل چې هغه وېره ده چې ګوندې ډېر سلفيان به د IS-K ليکو ته ولاړ شي.[53]

په حقيقت کې، د IS-K تسليم شويو غړيو، طالبان د سلفي ټولنې له مخالفت څخه د ډډه کولو لورته متوجه کړل، په دې دليل چې په دې کار سره به غړي د IS-K لور ته ولاړ شي. له دې سره سره، له کونړ څخه دباندې، طالبانو د سلفي مسجدونو او مدرسو بندولو او د سلفيانو نيولو ته دوام ورکړ، چې په ټولې سلفي ټولنې يې اغېز وکړ.[54] د 2022 په پای کې، سلفي سرچينو ادعا وکړه چې طالبانو پرېکړه کړې د افغانستان په سويل کې سلفي مدرسې ونيسي (دا معنا چې د دوی د پر مخ وړلو لپاره حنفي مديران ټاکي او د ډېرو ښوونکو او پروفيسرانو ځای نيسي)؛ په پوهنتونونو کې، هغه ښوونکي ګوښه کړای شول چې په سلفيت تورن وو.[55] د طالبانو او IS-K سرچينو دواړو دا اقدامات تاييد کړل.[56] د 2022 په ديسمبر کې، د سلفي سرچينو په وينا، طالبانو د بدخشان ولايت د شهداء په ولسوالۍ کې د يوې مدرسې نيمه مسئوليت واخيست، او د 2023 د فبرورۍ په لومړيو کې، په بدخشان کې د طالبانو پراخه ځپلو په درې سلفي مدرسو د بريد او په 10 مسجدونو کې د جمعې په لمونځونو د بنديزونو لامل وګرځېدل.[57]

د طالبانو د GDI معياري او مقداري وده په حتمي ډول د نويو لاربښونو د پلي کولو او د ځپلو د لا زيات توپيري کولو په برخه کې مرستندويه ثابتېده. له پيل څخه، د IS-K له بريدونو څخه د هر ډول ممکنه موخې په خوندي کولو پانګونه کولو پر ځای، طالبانو په ښارونو او د ښارونو په شا اوخوا کې د IS-K په واحدونو کې د نفوذ کولو لور ته پاملرنه زياتول غوره کړل.[58] محدودو شته سرچينو ته په کتنې (د 2022-23 ټوله کلنۍ دولتي بوديجه 2.63 ميليارد امريکايي ډالر، يا په 2020 کې له دې 48٪ څخه زياته

53. د امارت د پوليسو له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.
54. د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023؛ د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
55. په افغان تحليلګر کې نقل شوی، 'په افغانستان کې سلفي ټولنه: 1. #طالبانو د پکتيا، پکتيکا، خوست په ګډون...په ګڼو ولايتونو کې د ډېرو دولتي پوهنتونونو او ښوونځيو/مدرسو پروفيسران/ښوونکي د #سلفيت د مخينې په تور يا دې اټکل چې دوی سلفيان دي، له دندو #ګوښه کړل.... ان که څه هم دوی هېڅ راز ټراو نه و ښودلی...'، په ټويټر پوسټ شوی (اوس د X په نوم پېژندل کېږي)، 23 ډيسمبر 2022، <https://twitter.com/AfghanAnalyst2/status/1606179083116679168?s=20> ، په 1 اکتوبر 2023، ورته لاسرسی شوی.
56. د IS-K له کدر سره مرکه، جنوري 2023؛ د طالبانو له پخوانيو چارواکو سره شخصي اړيکې، دوحه، فبروري 2023.
57. پر ټويټر سلفي حساونه (اوس د X په نوم پېژندل کېږي)، په افغان تحليلګر کې نقل شوی دی، 'د #سلفي ټولنې يو حساب: - د #بدخشان ولايت د شهداء په ولسوالۍ کې #طالبانو په 10 سلفي مسجدونو کې په هغو سيمو کې د جمعې لمونځ بند کړ، چېرته چې سلفيان اکثريت دي.- TB بحرالدين (يو سلفي) له نږدې يوې اونۍ بند څخه وروسته خوشې کړ. — TB په بدخشان کې په يوه درېيمه سلفي مدرسه بريد وکړ'، په ټويټر پوسټ شوې، 10 فبروري، 2023، <https://twitter.com/AfghanAnalyst2/status/1624157476013629440?s=20>، د 1 اکتوبر 2023 ورته لاسرسی شوی؛ په ټويټر سلفي حساب، په افغان تحليلګر کې نقل شوی دی، '3. د د طالبانو ولسوال له وسله والو کسانو سره، د چهار شنبې پخه ورځ يوه خصوصي سلفي مدرسه بنده کړه، "الدعوة الى القرأن و السنة"، چې د هلکانو لپاره وه، او د همدې مدرسې د نجونو د څانګې لپاره يې د TB پلوي ښوونکي وګومارل، د #بدخشان ولايت د شهداء په ولسوالۍ کې، کوم ولايت کې چې سلفيان اکثريت دي'، په ټويټر بوسټ شوی ده (چې اوس د X په نوم پېژندل کېږي)، 23 ديسمبر 2022، <https://twitter.com/AfghanAnalyst2/status/1606179099336212480?s=20> د 2023 اکتوبر په 9 ورته لاسرسی شوی دی.
58. France 24، 'Fear Stalks City in Islamic State's Afghan Heartland'، 21 جنوري 2022.

ده)، [59]دا یو معقول لیدلوری ښکاري.[60] د پایلې په توګه، د 2022 په اوږدو کې د طالبانو هڅې د IS-K څخه په اغېزمنو شویو ټولو سیمو کې د GDI د جاسوسانو د شبکې پراخول او پیاوړي کول و.[61] د 2022-23 په اوږدو کې، طالبانو وکولای شول چې د IS-K په واحدونو ګڼ بریالي بریدونه تر سره کړي، چې ډېری یې په کابل کې وو، خو نورو ښارونو کې هم تر سره شول.[62] ډاکټر بشیر ته په چټکۍ سره په کلیو او جلال اباد کې د خبر ورکونکو او جاسوسانو د یوې پراخه شبکې د جوړولو امتیاز ورکول کېږي، د کوم له امله چې د IS-K ګڼ واحدونه له منځه ولاړل.[63] اغېز یې روښانه معلومېږي، ځکه بریدونه دربېدلي وو، په داسې حال کې چې نورې لارې چارې، لکه سیمه ییز مذاکرات، او مرستندویه شبکو په نښه کول، هم کارول شوي وو (لاندې وګورئ). په ټولنیزو رسنیو کې، IS-K په تکراري ډول خپل غړي د دوی په لیکو کې د طالبانو د نفوذیانو د شتون په اړه خبردار کړل، چې په څرګند ډول یې د هغې ستونزې ومنلې.[64]

په هر حال، د GDI د شبکو هغو سیمو ته رسېدو کې د کرارېدو یو شمېر روښانه ثبوتونه موجود وو، چېرته چې په اصل کې د IS-K د کار کولو تمه نه وه. یوه بېلګه یې د 2022 جولای په 5 له حیرتان څخه په ازبکستان کې راکټي برید دی. دا د IS-K د درې ننګرهاري غړیو له خوا تر سره شوی و، چا چې وکولای شول په مزارشریف کې په یو پټ کور کې د اوو میاشتو لپاره پټ شي. دې بهرنیو باید د GDI توجه جلب کړې وای؛ حقیقت دا دی چې دوی دا روښانه نه کړه چې د 2022 په منځ کې په دې سیمه کې د طالبانو د استخباراتو راټولېدل اوس هم په یو ډول کمزوري وو.[65]

د توپیري ځیلو پر لور د بشپړ تګ لپاره یوه بله مهمه وسیله د قانون د اکمنۍ یو فعال سیستم جوړول دي. کله چې د طالبانو چارواکو د IS-K د ملاتړ کونکو مسجدونو او مدرسو د 'ثبوت درلودلو' ادعا وکړه، په کومو کې چې د IS-K د تسلیم شویو غړیو اعترافات هم شامل وو، نو سلفي پلویانو د دا ډول تورونو سره مخالفت وښود طالبانو د دې پلویانو شکایتونه له پامه وغورځول: 'د یو شمېر سلفي علماوو له خوا د دوی د مدرسو او مسجدونو د بندیدو په اړوند یو شمېر شکایتونه وشول'، خو یوې سرچینې وویل چې موږ یې هېڅ پروا نه لرو.[66] په حقیقت کې، د ثبوت معیارونه ډېر ښکته وو. په کونړ کې د GDI یوه سرچینه په څرګند ډول دا مني چې: 'په کونړ ولایت کې موږ سلفي پلویانو ته خبرداری ورکړی و چې

59. محمد یونس یاور، 'د طالبانو لومړۍ کلنۍ بودیجه کې د 501 میلیونه امریکایي ډالرو کسر وړاندوینه شوې ده'، **رویټرز**، 14 مۍ 2022؛ شادي خان سیف، 'د افغانستان پارلمان 5.5 میلیارده امریکایي ډالر کلنۍ بودیجه تصویب کړه'، د اناطولي اژانس، 22 جنوري 2020.
60. Kathy Gannon، 'Islamic State Morphs and Grows in Pakistan, Afghanistan'، AP News، 11 اپریل 2022؛ Franz J Marty، 'Is the Taliban's Campaign Against the Islamic State Working?'، The Diplomat، 10 فبروري 2022.
61. د امارت د ولایتي ادارې له چارواکي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.
62. **افغان شاهد**، 'Taliban Increase Raids in Response to Recent Attacks and Seek to Downplay ISKP Threat'، 28 اپریل 2023.
63. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023؛ د امارت د ولایتي ادارې له امنیتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
64. Lucas Webber، '#اسلامي دولت خراسان ولایت خپلو پلویانو ته د #طالبانو له خوا کاریدونکي ټیلیګرام حسابونو په اړه یو خبرداری خپور کړ چې غواړي د #ISKP شبکو ته نفوذ وکړي. #افغانستان #پاکستان' د ټویټر پوسټ (چې اوس د X په نوم مشهور ده)، 9 نومبر 2022، <https://twitter.com/LucasADWebber/status/1590418971479904256?s=20&t=lnE3N18aXMMVBDFhFe44jw>، د 2023 کال د اکتوبر په 1 ورته لاسرسی شوی؛ Lucas Webber او Riccardo Valle، «ISKP د نفوذ ضد هلې ځلې پیاوړي کوي، تر العظیم لاندې د خبرداري سیستم نهادینه کوي»، **د وسله والو سیم**، د 2022 کال د سپټمبر 12.
65. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، مۍ 2022.
66. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.

که اسلامي امارت د کومې مدرسې يا مسجد په اړه د د داعش په اړوند د تبليغاتو خپرولو کوچنی شک هم درلود، موږ به يې بند کړو او د مدرسې مدير يا د مسجد امام ته به سخته سزا ورکړو'.[67]

د ثبوت ټيټ معيارونو په پايله کې د ځپلو د دوام او بندېدو امکان شته، که څه هم هغه د پخوا په څېر ډرامايي هم نه وي. لږ تر لږه، د 2021 اکتوبر او نومبر د مياشتو د ننګرهار ولايت د مرګ ډلګيو زياتې په 2022 کې په پرتليزه اندازه تکرار نه شوې.[68]

## د شنډولو لارې چارې

پر ځپلو سربېره، په وروستيو کلونو کې د IS-K سره د مبارزې لپاره د طالبانو له خوا غوره شوې يوه بله مهمه لاره د شنډولو ليدلوری و. د دا ډول لارو چارو عمومي بېلګو کې د بغاوت د اکمالاتو د ليکو، يا مالي اکمالاتو د جريان، يا عامو خلکو ته د هغوی د رسېدلو لارو پرې کول و. طالبان بايد له دې سره بلد وای: په 2006-21 کې د کابل او واشنګټن تر منځ يو مرکزي بحث دا و چې متحده ايالات نه شي کولای يا نه غواړي چې له پاکستان سره مخ شي، تر څو د طالبانو د اکمال ليکې پرې کړي. ډېرو استدلال وړاندې کړ، چې دې ناکامۍ جګړه نه ګټونکې کړه. [69]

په داسې حال کې چې دا د طالبانو لپاره معقوله وه چې د افغانستان په لرې ختيځ کې د IS-K مرکزونه له منځه يوسي، تر څو په ختيځ افغانستان کې د دې ډلې د اغېز ساتلو د وړتيا په وړاندې خنډونه پيدا کړي، دوی محدود بشري ځواک درلود، ځکه چې دوی د 2021 کال په دوبي کې د افغانستان دولت ونيو، په داسې حال کې چې د 2021 کال د سپتمبر تر مياشتې پورې د دوی په ګرځنده واحدونو کې يوازې 70000 جنګيالي شامل وو.[70] د طالبانو امارت بايد د 2021 سپتمبر له لومړيو څخه خپل زرګونه تر ټولو غوره ځواکونه په پنجشير کې ځای پر ځای کړي وای، چېرته چې دوی د سيمه ييزو مليشو او د پخواني حکومت د وسله والو ځواکونو د پاتې شونو له مقاومت سره مخ شول، کوم چې د حکومت له بدلون څخه وروسته راپورته کېدونکي لومړۍ وسله واله مخالفه ډله کې راټول شوي و چې هغه د ملي مقاومت ځواکونه وو.[71] زرګونه نور سرتيري د ښارونو په امنيت او له تاجکستان سره د سرحد په بندولو مصروف وو. په دې موده کې د بشري قوت کمښت له دې حقيقت څخه هم څرګندېږي چې د واک له تر لاسه کولو وروسته مياشتو کې په ډېرو کليوالو سيمو کې د طالبانو د وسله والو ځواکونو ډېرې کمې طبقې موجودې وې. د منځنۍ کچې په يوه ولسوالۍ کې، طالبانو يوازې کولای شول چې له 20 څخه تر 30 کسان وګوماري، کومو چې د ولسوالۍ د مرکز تاسيسات ساتل او کله کله يې په موټر

67. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
68. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
69. د Malkasian، **په افغانستان کې امريکايي جګړه**، pp. 305ff.؛ Chris Alexander، 'په افغانستان کې د پاکستان نيابتي جګړې پای ته رسېدل'، Macdonald-Laurier Institute، 2021؛ Ahmad Shuja Jamal او William Maley، **د جمهوري افغانستان زوال او سقوط** (London: Hurst, 2023)، څپرکی 4، وګورئ.
70. Antonio Giustozzi او Rasha Al Aqeedi، 'د طالبانو په امارت کې امنيت او حکومتوالي'، New Lines Institute Net Assessment، 24 نومبر 2021.
71. Susannah George او Aziz Tassal، 'د پنجشير په دره کې د طالبانو د پټې جګړې په داخل کې'؛ *Washington Post*، 8 جون 2022؛ Tom Wheeldon، 'د طالبانو پر ضد د مخ پر زياتېدو غوصې سره سره د افغانستان مخالفت "ډېر کمزوری" دی'، France 24، 15 اګست 2022؛ Shivam Shekhawat، 'د طالبانو پر ضد مقاومت: اوسنی حالت او د راتلونکي امکانات'، Observer Research Foundation، 10 جنوري 2023.

سايکلونو په سرکونو ګزمې کولې. دوی په کليو کې ډېر کم ليدل کېدل.[72] کله چې د طالبانو د ملاتړو، احتياطي سرتېرو، خواخوږو او د طالبانو د غړيو خپلوانو د امارت په وسله والو پوځونو کې شموليت پروسه پيل شوه، دې ځو مياشتې وخت واخيست چې نه روزل شوي يا کم روزل شوي وګړي په ځواکونو کې داخل کړي.[73] سربېره پر دې، د امنيتي سکتور لپاره په ابتدايي ډول پلانونه ډېر کم وو، ځکه چې د امارت مشرتابه پرېکړه کړې وه چې د خپلو وسله والو ځواکونو اندازه په پرتليز ډول کمه وساتي، چې دې ګڼ دلايل درلودل:

- د طالبانو له خوا په پنجشير کې د سپتمبر په مياشت کې تر لاسه کړې اسانه بريا.
- دا حقيقت چې IS-K ته د هغې د کم تشخص له امله د يو معمولي فعال په توګه کتل کېدل (مخکې وګورئ 'طالبانو IS-K څه ډول و ارزول').
- له تاجکستان پرته (کوم چې د ملي مقاومت ځواکونو کوربه وو) د ټولو ګاونډيو هېوادونو له خوا نوي حکومت سره مثبت چلند ښودل، دې چارې وسله والو مخالفو ډلو لپاره سخته کړې وه، چې خوندي ځای او بهرني ملاتړ پيدا کړي.
- د امارت محدود مالي بنسټ.

په حقيقت کې، د طالبانو سرچينو دا خبرونه خپرول چې نوی پوځ به کوچني وي، چې ډېر کم شمېر لکه 40000 سرتيري په جګړه ييزو واحدونو کې او نور 20000 سرتيري به په ملاتړو او اداري دندو کې ولري. [74] په پلان کې وه چې د پوليسو ځواکونه به 40000-60000 سرتيري وي، له دوی څخه به شا اوخوا 5000 سرتيري په ځانګړو ځواکونو کې وي چې بدري 313 بلل کېږي. [75] په هر حال، دا پلانونه ډېر ژر بدل شول او د 2022 تر جنوری پورې، امارت د پوځ او پوليسو لپاره خپل پلانونه تازه کړي و، په کومو کې چې لږ تر لږه 150000 سرتېرو هدف پر لور د پوځ په تدريجي ډول پراختيا ځارنه شوې وه.[76] دا شونې ښکاري چې په ښارونو او ختيځ کې د IS-K د فعاليتونو بيا پيل کيدلو په دې پرېکړه کې مهمه ونډه درلوده.

له همدې امله طالبانو په ختيځ کې د کومو لويو عملياتو پيل کول وځنډول. داسې ښکاري چې دوی پوهېدل چې وروسته د سيمې د ساتلو وړتيا څخه پرته پراخه پوځي عمليات بې معنا دي، که څه هم پايله نه لري – احتمالاً د اګست 2021 څخه مخکې د دوی په وړاندې د دا ډول لارو چارو د کارېدلو د ناکامۍ په ليدلو سره. د 2022 تر مارچ پورې، طالبان بالاخره په دې وتوانيدل چې په پرتليز ډول په کونړ کې خپل لومړي پراخه عمليات پيل کړي، نيت يې دا وه چې IS-K د خپلو مرکزونو لپاره جګړې ته اړ کړي. [77] په لومړيو کې، داسې برېښي چې هغوی فکر کړی و چې په لرې ختيځ کې د IS-K د

---

72. Giustozzi او Al Aqeedi، 'د طالبانو په امارت کې امنيت او حکومتوالي'.
73. Susannah George، 'افغان مېرمنو په طالبانو څه ډول برید وکړ، لکه چې د دوی د ليکلو پيغامونو له لارې ويل شوي دي'، Washington Post، 26 اګست، 2022؛ Human Rights Watch، 'افغانستان: ښځينه لاريون کونکي د طالبانو د ناسم چلند تفصيلات ورکوي'، 20 اکتوبر 2022.
74. د طالبانو د امارت د پوځ له يو افسر سره مرکه، لغمان ولايت، نومبر 2021؛ د طالبانو د امارت د پوځ له يو افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، نومبر 2021.
75. د امارت د پوليسو له يو افسر سره مرکه، جنوري 2022؛ د امارت د کورنيو چارو وزارت له يو افسر سره مرکه، جنوري 2022.
76. Franz J Marty، 'د طالبانو د پوځ د وضعيت او ماموريت په اړه د طالبانو له ستر درستيز سره ځانګړې مرکه'، Swiss Institute for Global Affairs، 29 جنوري 2023؛ د امارت د پوليسو له افسر سره مرکه، جنوري 2022؛ د امارت د کورنيو چارو وزارت له امنيتي افسر سره مرکه، جنوري 2022.
77. د امارت د پوليسو له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.

يو څو ځانګړو مرکزونو ګوابنلو سره به دوی IS-K مقاومت او جګړې ته اړ کړي، او هغوی ته به زيات زيان ورسوي. د طالبانو د يوې سرچينې په وينا، د 2021 له اګست مخکې، IS-K د 'کونړ هرې ولسوالۍ' ته لاسرسی درلود او 'ډېر فعال پوځي مرکزونه او روزنيز مرکزونه يې درلودل'. [78] خو ياغيانو له اړيکي څخه ډډه وکړه، خپل مرکزونه يې خوشي کړل او د لوړو درو په ډېرو ژورو کې پر شا شول. [79] يو سلفي **عالم** (ديني عالم) د دانګام ولسوالۍ لپاره همدا ډول ارزونه وړاندې کړه، نوموړي وويل چې IS-K د طالبانو له واک ته رسېدو مخکې شا اوخوا 30٪ سيمه په لاس کې درلوده، خو د 2021 له اګست وروسته د IS-K ډېری غړي له دې سيمې ووتل.[80] GDI تمه درلوده چې د 'IS-K د ختمولو' لپاره به ان په درو کې دننه يوه بل پوځي عملياتو ته اړتيا وي. په هر حال، د 2022 تر اپريل پورې، طالبانو محسوس کړه چې IS-K له جګړې پرته په کونړ کې پر سيمه د خپل واک وروستي پاتې شوني پرېښي دي.[81]

که دا د دوی د ابتدايي پلانونو برخه وه که نه وه، طالبانو ګومان کاوه چې دوی يو مهم هدف تر لاسه کړی دی: سره له دې چې د IS-K طريقو دا د طالبانو لپاره ناممکنه کړه چې دا ډله له منځه يوسي، په سيمه او خلکو واک تر لاسه کولو بيا هم له دوی سره مرسته کوله چې IS-K وځپي. د 2022 په اپريل کې په کونړ کې د طالبانو يو کدر وويل چې د IS-K سره دا فرصتونه چې احتمالي استخدام وکړي ډېر کم شوي دي، ځکه دوی اړ شوي دي چې پټ شي او خپل عمليات کم کړي. [82]

په سيمه کې د طالبانو پراخه شتون هم له GDI سره مرسته وکړه چې په ټول هېواد کې د IS-K د شتون په اړه خپله نقشه جوړولو ته وده ورکړي. د بېلګې په دول، د 2023 تر مارچ پورې، طالبانو ادعا کړې وه چې دوی په بشپړ دول پوهېږي چې IS-K واحدونه د کونړ په کومو سيمو کې فعاليت کوي.[83] له همدې امله د شنډولو دې تکتيکونو د ډېر توپيري ځپلو په وړتيا کې ونډه درلوده.

د طالبانو له خوا د IS-K پر ضد د شنډولو يوه بله کارول شوې طريقه مالي خنډونه پيدا کول و. د **حواله** تاجرانو د 2021 په وروستيو او د 2022 په لومړيو کې وويل چې د طالبانو چارواکي (GDI، بلکې همدا راز ملي بانک) په دوی باندې فشارونه زياتوي. په هغه وخت کې، طالبانو لا هم په دې برخه کې کار نه و کړی چې څه ډول په اغېزناکې طريقې سره د **حواله** تاجران IS-K (يا کوم بل مخالف عامل) لپاره د پيسو له لېږد څخه منع کړي، او په همدې بنسټ يې د معاملاتو د ثبت کولو لپاره په ويرولو او شته قوانينو پر پلي کولو تکيه درلوده – کوم چې د پخواني حکومت پر مهال په بد ډول له پامه غورځول شوي وو – تر څو اغېز تر لاسه کړي. [84] د طالبانو ګزمې له IS-K سره د همکارۍ د ګوابن د يادونې په توګه وې. په داسې حال کې چې دې لارو چارو IS-K ته له ترکيې (چېرته چې د IS-K مرکزي مالي مرکز و) څخه د نقدو پيسو د جريان په بشپړ ډول بند نه کړ، داسې ښکاري چې دا بې معنا نه وه. د IS-K سرچينو راپور ورکړی دی چې د 2022 تر سپتمبر پورې، IS-K يوازې د **حواله** پر تاجرانو او يو شمېر قاچاقبرو ډېر محدوده تکيه درلودلای شي، چې له پاکستان څخه يې افغانستان ته د IS-K لپاره

78. د امارت د ولايتي اداري له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.
79. *Ibid*.
80. له سلفي **عالم** سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2023.
81. د امارت د پوليسو له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.
82. د امارت د ولايتي اداري له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.
83. د امارت د ولايتي اداري له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
84. د **حوالي** له تجار سره مرکه، کابل، مى 2022؛ د **حوالي** له تجار سره مرکه، کابل، ديسمبر 2021.

نقدې پيسې ورلې.[85] د همدې کال په وروستيو کې، په ترکيه کې د IS-K پر شبکو د ترکيې د حکومت د بريدونو له امله مالي انتقالات نور هم ستونزمن شول.[86] دا روښانه نه ده چې ايا د ترکيې ځېل د GDI له خوا چمتو شويو استخباراتو پايله وه يا د امارت ديپلوماتيکه ښکېلتيا. په هر صورت کې، لکه چې د IS-K يوې سرچينې ومنله، د دې په پايله کې په شمال کې د دې ډلې پراختيا ته په کم ډول مالي مرسته چمتو کړای شوې وه.[87]

داسې ښکاري چې دې هڅو يو څه اغېز درلود. د 2022 د مۍ په مياشت کې د IS-K يوې سرچينې ادعا کړې وه چې د مالي جريان پخوانۍ ستونزې حل شوې دي، خو شواهد د دې پر ضد وو.[88] د جګړې د لومړۍ ليکې جنګياليو ته په 2022 کې 235$ مياشتينۍ ورکېدونکې معاش د 2015-16 په پرتله کم و، چې هغه مهال په څرګند ډول تر 600$ پورې لوړ و.[89] سره له دې چې د IS مرکزي مشرتابه د راتلونکي لپاره په پراخه کچه په مالي تمويل کې د زياتوالي ژمنې کولې، د IS-K د مالي کدرونو په وينا، په 2022 کې، مشرتابه د IS-K بوديجه تر اوسه تر ټولو کمې کچې ته راټيټه کړه.[90]

# د طالبانو د پخلاينې معاملې

لکه چې مخکې يې يادونه وشوه، ډاکټر بشير د IS-K د ملاتړو په شبکو او ټولنو کې يوازې په بربادۍ کې ليواله نه و. د خپلې ځينې له لارې د ځواک د دريځ په تر لاسه کولو سره، بشير د ټولنو له مشرانو سره په سيمه ييزو مذاکراتو کې وړاندې ولاړ، تر څو سيال سازمان څنډې ته کړي.[91] کله چې هغوی په خپل 'جهاد' کې په جګړه بوخت وو، نو طالبان خپله هم په خپلو ليکو کې د يو شمېر خلکو د شاملولو لپاره د پخلاينې د هڅو هدف ګرځېدلي وو، که څه هم معلومه نه ده چې دوی له دې هڅو څخه څه په لاس راوړل، کوم چې په هر حالت کې د هغه مهال افغان حکومت له خوا ډېر کمزوري پلې شوي وو.[92] اوس مهال طالبان بشير ته 'د ننګرهار ولايت د GDI د ډيپارټمنټ د ډېر فعال مشر' او هغه چا په سترګه ګوري چې د 'ننګرهار ولايت په هر کلي او ولسوالۍ کې يې له کليوالو او مشرانو سره ډېرې ښې اړيکې درلودلې'.[93]

85. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، سپتمبر 2022.
86. د IS-K له قوماندان سره مرکه، بدخشان ولايت، اکتوبر 2022.
87. *Ibid*.
88. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، مۍ 2022.
89. مالي کميسيون کې د IS-K له کدر سره مرکه، افغانستان، جنوري 2023؛ Giustozzi **په خراسان کې اسلامي دولت**، مخ. 129.
90. د IS-K له مالي کدر سره مرکه، کونړ ولايت، سپتمبر 2022.
91. د امارت د ولايتي اداري د امنيتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
92. د دې په اړه لاندې مراجع وګورئ، Talatbek Masadykov، Antonio Giustozzi او James Michael Page، 'Negotiating with the Taliban: Toward a Solution for the Afghan Conflict', *Crisis States Working Paper Series No. 2* (No. 66, January 2010)؛ Vanda Felbab-Brown، 'Negotiations and Reconciliation with the Taliban: The Key Policy Issues and Dilemmas', Brookings, 2016؛ Ashley J Tellis، 'Reconciling with the Taliban? په افغانستان کې د يوې بديلې لوې ستراتيژۍ پر لور'، Carnegie Endowment، 2009.
93. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023؛ د امارت د ولايتي اداري له امنيتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.

شوني ده طالبان له هغه دندې خبر و چې سلفي مشرانو د IS-K د غړیو په جلب اوجذب کې تر سره کړې وه، او کېدای شي چې د یاغیانو په توګه د خپلې تجربې پر اساس یې د دا ډول دندې اټکل کړی وي. د IS-K ګڼو تسلیم شویو غړیو ومنله چې په ننګرهار کې ډیری سلفي علماوو پخوا کلیوال هڅولي وو چې له IS-K سره یوځای شي. د IS-K ټیمونو له دې مشرانو سره منظمې لیدنې کولې، او دوی یې هڅول چې کلیوال په خوځښت راولي. د راپورونو پر اساس د IS-K په انفرادي غړیو د لوړې کچې فشارونه و، تر څو ملګرو، خپلوانو او ګاونډیانو ته په دې ډله کې د شمولیت بلنه ورکړي. [94] د IS-K ملاتړو سلفي کلیوالو مشرانو لپاره له اضافي معیاري ځېړنو څخه پرته د نویو غړیو د ورپېژندلو په برخه کې پر هغوی باور یو معیاري عمل و. 'هغه مهال له داعش سره یوځای کېدل ډېر اسانه و؛ یوازې یوې تلیفوني غوښتنې ته یې اړتیا درلوده'. [95] د IS-K د یو پخواني غړي په وینا، چې د ټولنیزو رسنیو په مټ جذب شوی و، په انفرادي ډول د جلب او جذب کېدونکو اوس هم په ډېر جدیت سره څېړنه کېږي.[96]

ډاکټر بشیر په ابتدایي ډول په کم شمېر سلفي مشرانو، چا چې د همکارۍ هیله درلوده، او په ګڼو حنفي مشرانو، چا چې د IS-K له یو شمېر غړیو سره اړیکې درلودې او یا په هغو سیمو کې اوسېدل چې د IS-K له شتون اغېزمنې وې، تکیه درلوده. [97] د IS-K پخوانیو سرچینو د دوی د تسلیمۍ په مذاکراتو کې د مشرانو ونډه تایید کړه.[98] د یو تن په وینا، 'کله چې موږ د طالبانو اسلامي امارت ته د تسلیمۍ پرېکړه وکړه، یو ځل بیا موږ سیمه ییز مشران وکارول، تر څو زموږ د تسلیمۍ په اړه له ډاکټر بشیر سره مذاکرات او منځګړیتوب وکړي'.[99] GDI د IS-K د تسلمیدونکو غړیو او د هغوی د ټولنو مشرانو ته د سوګند ورکولو تر مخې د دې تضمین ورکړ، چې دوی به یو ځل بیا له IS-K سره نه یوځای کېږي نه به په کوم ډول د امارت مخالفت کوي. مشرانو موافقه کړې وه چې مسئولیت واخلي او د امارت چارواکو ته د هر ډول سرغړونو خبر ورکړي.[100]

په 2021 کې د ډاکټر بشیر د اکتشافي هڅو پر بنسټ، GDI او د طالبانو ټول امنیتي ماشین نورو برخو د ټولنې له مشرانو سره اړیکې جوړې کړې. [101] د طالبانو د GDI له خوا د کلي مشرانو ته دنده سپارل شوې وه چې د هر سلفي مشر د تسلمیدو په برخه کې مذاکرات وکړي، له کومو مشرانو سره چې دوی اړیکې لري. [102] طالبانو د مشرانو په منځّ کې ګټورې اړیکې په نښه کړې، او ولسوال یا امنیه قوماندان، په اونیز ډول یا پنځلسو ورځو کې، له هغوی سره منظمې لیدنې کولې.[103]

---

94. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
95. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.
96. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.
97. د امارت د ولایتي ادارې د امنیتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
98. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023؛ له سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.
99. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.
100. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023؛ د امارت د ولایتي ادارې له امنیتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
101. د امارت د ولایتي ادارې له چارواکي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.
102. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.
103. له سلفي **عالم** سره مرکه، کونړ ولایت، اپریل 2023.

رسمي ادعا دا ده چې په 22-2021 کلونو کې، شاوخوا 500 د IS-K غړي (قومندانان، جنګيالي، استخدام کوونکي، ملاتړيز عناصر او پلويان) په ننګرهار، کونړ او لغمان ولايتونو کې تسليم شول، چې دا د بشير له خوا د بې رحمه ځپنې او د ټولنې له مشرانو سره د مذاکراتو پايله وه.[104] داسې احتمال شته چې دا شمېرې به تر يو بريده پړسول شوې وي. د IS-K يو تسليم شوي غړي وويل چې 'د هغو 70 تسليم شويو خلکو په منځ کې ډېر داسې وو، چې د داعش غړي نه وو؛ زه دوی ډېر نه پېژنم'.[105] د طالبانو د ولايتي ادارې يوې سرچينې ومنله چې د نوي حکومت د خوشاله کولو لپاره ليواله سلفي مشرانو، د ټولنې ځينې غړي قانع کړل چې خپل ځانونه د IS-K د غړيو په توګه وړاندې کړي او 'تسليم' شي. دا وروسته د GDI له خوا ومونډل شوه، خو په ټوليز ډول، پر مشرانو تمرکز لرونکې هڅې بيا هم ډېرې برياليۍ وبلل شوې.[106] د پوليسو يوې سرچينې اټکل کړی دی چې په تسليم شويو کې 60٪ د ختيځ افغانستان څخه د IS-K غړي وو، او 40٪ د هغوی ملکي ملاتړي وو.[107] ان تر دې چې د طالبانو يو مخالف دا کمپاين مثبت وارزولو، او ويې منله چې د سره رود په يو کلي کې، د IS-K درې غړي طالبانو ته تسليم شول.[108] د IS-K ډېرو پخوانيو غړيو تاييد کړه چې د IS-K د غړيو د لويو ډلو د برخې په توګه تسليم شوي دي.[109]

اکثريت د GDI او د ټولنې د مشرانو تر منځ د تړونونو په پايله کې تسليم شول، خو ځينې يې نېغ په نېغه GDI ته تسليم شول، وروسته له دې چې بشير وکولای شول دوی ته په ولسوالۍ کې رسېدګي وکړي او دوی قانع کړي چې تسليمېدل د دوی له لپاره تر ټولو غوره انتخاب دی. د IS-K غړيو ته د بشير استدلال دا و چې دا د سلفي ټولنې په ګټه نه ده چې يوه بله جګړه ولري، کومه به چې د دوی د کليوالو په ګډون، د طالبانو له خوا په بې رحمۍ سره پر مخ يوړل شي.[110]

داسې حال کې چې IS-K د پرېښودونکو د ګواښلو ډېره کمه وړتيا درلوده، ځکه چې په ساحه کې دا ډله ډېره کمزورې شوې وه، د طالبانو لپاره تر کونړ ولايت پورې د ټولنې له مشرانو سره د مذاکراتو لپاره د خپلو تکتيکونو د پراختيا لاره هواره وه. په حقيقت کې، د 2022 په اوږدو کې تر يو بريده، د IS-K د غړيو د تسليمېدو جريان، کوم چې د 2021 په مني کې په ننګرهار کې پيل شوی و، کونړ ته هم وغزېد. دلته هم، طالبانو د ټولنې د مشرانو همکاري وغوښته، تر څو د IS-K غړي د وسلې کېښودلو ته قانع کړي. يو شمېر سلفي علماء هم پکې ښکېل وو. که څه هم د ګاونډي ولايت په پرتله تسليمېدونکي کم وو، خو د مشرانو د منځګړيتوب په پايله کې د طالبانو په وړاندې تسليمېدونکو د 'داعش لسګونه غړو' د IS-K لپاره د يوې خبرتيا استازولي کوله. دا په ننګرهار کې د خپلې شوې فارمولې په څېر وه، چې تسليمېدونکو غړيو به سوګند کاوه چې کله به هم له IS-K سره نه يوځای کېږي او مشرانو د هغوی

104. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
105. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023.
106. د امارت د ولايتي ادارې د امنيتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
107. د امارت د پوليسو له افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
108. له سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023.
109. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023.
110. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023؛ د امارت د ولايتي ادارې له امنيتي افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.

ضمانت وکړ. د ننګرهار په څېر، په کونړ کې هم د IS-K یو شمېر غړیو نبغ په نبغه GDI ته رسېدګي وکړه تر څو د خپلې تسلمۍ په اړه مذاکرات وکړي.[111]

په ورته وخت کې، طالبانو په ننګرهار کې له سیمه ییزو مشرانو سره مذاکراتو ته دوام ورکړ. له همدې امله په 2022 کې د تسلیمېدونکو جریان دوام پیدا کړ. په 2022 کې تسلیم شوې وروستۍ ډله له ننګرهار څخه له شا اوخوا 70 غړیو جوړه وه، چې په مني کې جلا شوي وو. د 2023 تر جنورۍ پورې، طالبانو باور درلود چې په ننګرهار کې د IS-K 90٪ جوړښت له منځه تللی دی؛ طالبان د IS-K د یو شمېر واحدونو د شتون څخه خبر وو، خو هغوی یې د بریدونو لپاره ډېر کمزوري انګېرلي کړي وو. [112] دا ستونزمنه ده چې وویل شي ایا د طالبانو اټکل سم و، خو شک نه شته چې IS-K په ننګرهار کې سخته ضربه لېدلې وه.

کومو چې وسلې غورځولې وې، کله کله د طالبانو له خوا د سم چلند خبر ورکوي؛ نورو خبر ورکړی چې ډېر ښه چلند ورسره نه دی شوی، په داسې حال کې چې طالبان او د طالبانو پلوي کلیوال هغوی سپک بولي. ، بیا هم دوی، د دې ستاینه وکړه چې دوی کولای شول له خپلو کورنیو سره و اوسېږي، ان که ډېری یې اړ شوي وو چې د IS-K له غچ څخه د خوندي کېدو لپاره کډوال شي. په هرو دوه اونیو کې د پولیسو په مرکز کې د راپور ورکولو او له اجازې پرته ګرځېدو اجازې نه ورکولو شکایتونه موجود وو. [113] د IS-K تسلیم شویو غړیو دا شکایت هم کړی و چې طالبان د تړون په خپل اړخ باندې عمل نه کوي – په ځانګړي ډول، تسلیم شویو ته د مالي مرستې ورکولو په برخه کې. له مرکه شویو څخه یو تن یادونه وکړه چې دا چاره به د طالبانو لپاره د ډېرو تسلمیدونکو قانع کول ستونزمن کړي. بل شکایت دا و، هغه څوک چې په کلیو کې یې ژوند کاوه، له IS-K څخه یې د خوندیتوب احساس نه کاوه. دې حقیقمت هم د IS-K ځینې پخلا شوي غړي خفه کړي وو چې یو شمېر مدرسې او مسجدونه لا هم بند وو، ځکه چې د تسلیمۍ په تړونونو کې یوه ماده د دې د ببړته پرانیستلو په اړه هم شامله وه.[114] د راپورونو پر بنسټ، د IS-K له تسلیمېدونکو غړیو سره د دولتي دندو، د دې ازادۍ چې د هېواد په هر ځای کې وغواړي ژوند کولای شي او دا چې د شپږو میاشتو لپاره به نغدې پیسې تر لاسه کوي، ژمنه شوې وه. په عمل کې، هېڅ ډول نغد نه و تادیه شوی (که څه هم یو څه خوراکي توکي او څه نور ګټور شیان لکه کمبلې ورته ورکړل شوې وې)، او تسلیم شویو خلکو ته یوازې په خپله ټولنه یا د ولسوالۍ په مرکز کې د اوسېدو انتخاب اجازه وه. د IS-K یو شمېر تسلیم شویو غړیو ویلي دي چې د تسلمېدو د سرعت کمېدلو لامل د هغو تړونونو څخه سرغړونې یا پر هغوی عمل نه کول و.[115]

111. د امارت د ولایتي ادارې له چارواکي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.
112. د امارت د ولایتي ادارې له چارواکي سره مرکه، ننګرهار ولایت، جنوري 2023.
113. له سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د سلفي **عالم** سره مرکه، کونړ ولایت اپریل 2023.
114. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.
115. د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023؛ د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.

# له سلفي علماوو سره د خواصو جوړ جاړی

په 2020-21 کلونو کې، طالبانو د بین الافغاني مذاکراتو په وړاندې شویو فرصتونو ډېر باور ونه ښود، نه په کابل کې د دوی سیالان تر یو بریده په اغېزناک ډول د دې مذاکراتو پر مخ وړلو وړ وو. [116] د دې پر ځای، طالبانو د اسلامي جمهوریت حکومت سره اړوند سیمه ییز او ساحوي خواصو همغږي کولو کوشش وکړ.[117] دا ممکن د دې روحیې تر مخې وه او له دې تجربې د معلوماتو پر اساس وه، چې طالبانو له IS-K سره د شخړې حل کولو لپاره د مذاکراتو شونتیا ته لاسرسی پیدا کړ. طالبان د IS-K او ډېرو سلفي مذهبیانو تر منځ له اړیکو څخه ښه خبر وو. په ختیځ او شمال ختیځ کې د سلفي ټولنو څخه ملاتړ د IS-K لپاره اړین ثابت شو، تر څو هلته ریښې خپرې کړای شي. [118] په دې موده کې ډېرو سلفي مبلغینو د IS-K لپاره جلب او جذب کاوه، لکه چې په دې ټولنه کې ځینو سرچینو دا ومنله، او په کابل کې سلفي مدرسو او ښوونځیو ګڼ جذب شوي IS-K ته استول. ډېر سلفي ځوانان په همدې موده کې ورسره یوځای شول. [119] د طالبانو لپاره، د IS-K او سلفي ټولنې تر منځ درز پیدا کول، له کوم څخه چې IS-K د خپل ملاتړ ډېره برخه تر لاسه کوي، باید یو په زړه پورې فرصت بلل شوی وای.

د سلفي علماوو یوې ډلې لا له مخکې څخه په 2020 کې له طالبانو سره د تفاهم هڅه کړې وه، ځکه چې IS-K په ختیځ کې سیمې په چټکۍ سره له لاسه ورکولې. د لوړ پوړو سلفي علماوو یو پلاوی، چې مشري یې تر ټولو لوړ پوړې څېرې، شیخ عبدالعزیز کوله، په 2020 کې د طالبانو له امیر هبة الله اخوندزاده او نورو لوړ پوړ طالبانو سره وکتل، او د ملکیانو په وړاندې یې د تاوتریخوالي او غچ اخیستنې د کړنو د پای ته رسولو په مقابل کې د طالبانو څخه د ملاتړ وړاندیز وکړ. [120] د امارت چاروا‌کو یو ځل بیا په 2021 کې په کابل کې د سلفي علماوو د پلاوو هرکلی وکړ، له سلفي علماوو سره یې تړون، او د دې احکامو بیا صادرول تایید کړل چې سلفیان به نه په نښه کېږي. له دې وروسته، د سلفیانو ځورول او پر هغوی بریدونه کم شول، ان که څه هم د طالبانو ځینو قوماندانانو د سلفیانو په وړاندې دوښمنانه چلند ته دوام ورکړ. [121]

په هر حال، د تړون شرایط دا وو چې طالبان به سلفي مبلغینو ته د تبلیغ اجازه نه ورکوي، او هغه مدرسې به بندې پاتې وي، کومې چې په دې بنسټ بندې شوې وې، چې د IS-K لپاره جلب او جذب کوي. یوازې مسجدونه بېرته پرانیستل شوي وو. سربېره پر دې، یو شمېر لوړ پوړي عالمان چې له IS-K سره یې اړیکو تورن وو، په زندان کې پاتې شول. شیخ بلال عرفان؛ شیخ قاري مزمل؛ شیخ سردار ولي؛ شیخ جاوید؛ او دلاور منصور. سلفي علماوو د مدرسو بندول لنډمهالي وبلل او تمه یې

116. عارف دوستیار او زمری فراهي، 'ولې د افغان سولې پروسه ناکامه شوه، او په راتلونکي کې به څه کیږي؟'، د منځني ختیځ انستیټیوټ (Middle East Institute)، 18 اګست 2022؛ Steve Brooking، 'ولې د سولې مذاکرات په افغانستان کې تل له لاسرسي بهر وې؟'، Peaceworks شمېره 184، 2022، USIP؛ S Yaqub Ibrahimi، 'ناسم مذاکرات او د طالبانو په لاس د افغانستان سقوط'، *International Journal* (77 ټوک، 2 شمیره، 2022).
117. Vanda Felbab-Brown، 'د امریکا له وتلو وروسته افغانستان: 2 برخه — څلور سناریوګانې'، Brookings، 16 جون 2021؛ Antonio Giustozzi، 'ایتلافونه د طالبانو لپاره د افغانستان په نیولو کې مهم و'، New Lines Institute، 9 سپتمبر 2021.
118. د بحث او ادبیاتو لپاره، Giustozzi، **پهخراسان کې اسلامي دولت** وګورئ.
119. له سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022.
120. د سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022؛ د سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022.
121. له سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولایت، فبروري 2022.

درلوده چې له څه مودې وروسته دا ټولنه کولای شي چې خپل ارام موقف ته بېرته وګرځي، کوم چې په ماضي (له 2015 مخکې) کې د افغان سلفيانو په منځ کې واکمن و.

له دې سره سره، ان په 2021 کې د دويم ټرون څخه وروسته، د دې ټولنې ډېر 'ګرم دماغه' ځوان غړي له IS-K سره ودرېدل.[122] يو سلفي عالم چې امارت سره يې بيعت کړی و، په خصوصي مرکه کې ومنله چې سلفي علماء د حنفي اسلام مخالف دي، خو د دوی په باور IS-K د طالبانو پر ضد هېڅ فرصت نه لري، او دا چې جګړه د دې ټولنې په ګټه نه ده. په هر حال، دې علماوو په هغو ځوانانو واک نه درلود، چې لا هم له IS-K سره يوځای وو.[123]

له بلې خوا، د طالبانو او حنفي علماوو په منځ کې، د منځلاریتوب غړونه موجود وو، په ځانګړي ډول د هغو علماوو په منځ کې، چا چې ان دا هم غوښتل چې د سلفيانو تبليغ ومني – کوم چې د سعودي عربستان او پاکستان له سخاوت څخه تمويل شوي دي – په دې دلايلو چې که داسې نه وي نو سلفيان به د IS-K لور ته تګ ته دوام ورکړي.[124] په جلال اباد کې يو امام څرګنده کړه چې د طالبانو د مشرتابه له خوا د غوره حل لارې په توګه دا تعريفيدای شي، لکه چې مخکې بحث شوی دی: له IS-K سره د تړلو په توګه د ټولو سلفيانو له په نښه کولو ډډه وکړئ؛ سلفيان پرېږدئ، خو دوی له تبليغ څخه منع کړئ.[125] د هغه ټکي په څرګند ډول د نه درېدونکي سلفيت د خپرېدو په اړه د غوصې څرګندونه کوي. 'زه د سلفي علماوو او پلويانو په منځ کې ژوند کوم؛ دوی ورځ په ورځ سترېږي، دوی په سعودي عربستان او ګڼو نورو عربي هېوادونو کې ښې مالي سرچينې لري... تر څو خپل فعاليتونه پراخه کړي'.[126]

خو ډېرو طالبانو او حنفي علماوو د 2021 ټرون مخالفت هم څرګند کړ. دلته ډېر توندلاري شته. د کونړ پخواني والي ترابي تونډلاری درېځ راڅرګندی کړ: د سيمه ييزې پخلاينې له هڅو پرته ځېل. که څه هم دا ليډلوری اغېزناک نه وو، او په کابل کې يې د GDI په ليکو کې مخالفت وشو، ترابي بيا هم د 2023 په لومړيو کې ملاتړي درلودل، کومو چې په دې بنسټ د ملاتړو شبکو او ټولنو پر ضد د ځېلو په پلوۍ استدلال وړاندې کړ، چې د دوی له خوا ورکړل شوي خوندي مرکزونه د IS-K د عملياتو لپاره مهم وو.[127]

د حنفي علماوو په منځ کې يوعام نظر دا دی چې که څه هم په افغانستان کې ارام سلفيان شته چې د IS-K وسله وال سلفيت يې نه دی منلی، خو د سلفيانو په منځ کې د IS-K محبوبيت يوازې له ټولنې څخه د دفاعي غبرګون له امله نه دی. دوی باور درلود چې جهادي سلفيت په ټوله ټولنه کې خپرېږي. له همدې امله، ډېرو حنفي علماوو له طالبانو سره د تفاهم د هڅو کونکو ګڼو لوړ پوړو سلفي علماوو د پرېکړې په اړه شک څرګند کړ، او باور يې درلود چې دا به يوازې د وخت تر لاسه کولو لپاره يوه تکتيکي پرېکړه وي.[128]

د طالبانو او حنفي علماوو په منځ کې د قطبي شويو اندونو په پايله کې، د سلفيانو په اړه د امارت تګلارو کې په پرله پسې ډول لوړې ژورې راتلې، او ولايت ته په کتنې سره يې بدلون موند، لکه چې مخکې

122. د سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولايت، فبروري 2022؛ د سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولايت، فبروري 2022.
123. له سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولايت، فبروري 2022.
124. له **عالم** سره مرکه، ننګرهار ولايت، نومبر 2022.
125. د جلال اباد په يو مسجد کې له يو امام سره مرکه، نومبر 2022.
126. له **عالم** سره مرکه، ننګرهار ولايت، نومبر 2022.
127. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
128. د سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولايت، فبروري 2022؛ د سلفي مشر سره مرکه، کونړ ولايت، فبروري 2022.

تر بحث لاندې ونيول شول. د پايلې په توګه، له سلفي ټولنې سره اړيکې له ترينګلتيا ډکې پاتې شوې. له کونړ سره ځانګړې چلند کېدو، په داسې حال کې چې د طالبانو مشرتابه دا روښانه کړه چې په ځانګړي ډول په کونړ کې، GDI بايد يوازې د پياوړو شواهدو په شتون کې د سلفي مدرسو او مسجدونو پر ضد ګام پورته کړي.[129] د ولايتي ادارې د يوې سرچينې په وينا، 'خپلو سلفي ورونو ته درناوی او عزت ورکولو لپاره سخت کار کول او د طالبانو او سلفيانو تر منځ د شخړې ختمولو بشپړ هڅه کول'، نوې تګلاره د ترابي له ګوښه کېدو وروسته متعارف کړای شوه. دا پرېکړه په لوړ مقام کې شوې وه: 'په کابل کې زموږ مشرانو د طالبانو سيمه بيز مشرتابه ته ويلي دي چې په کونړ کې له سلفي غړيو سره ښه چلند وکړي'. لږ تر لږه يو جزوي اعتراف موجود و چې 'په افغانستان کې د داعش د فعاليدو او تر يو بريده پياوړي کېدو يو لامل دا دی چې يو شمېر طالبانو په کونړ او ننګرهار کې د سلفيانو پر ضد تهاجمي اقدامات وکړل'.[130] د IS-K پخواني غړيو تاييد کړه چې له سلفي مشرانو او علماوو سره د مذاکراتو په پايله کې په 2022 کې ټول مسجدونه او سلفي مدرسې بيا پرانيستل شول، له دوه پرته، چې له IS-K سره د هغوی د اړيکې له امله تړلې پاتې شول.[131]

د دې 'ځانګړي چلند' سره سره يو سلفي **عالم** د 2023 په اپريل کې اټکل کړی و چې په کونړ کې دا ټولنه د هغو تر منځ چې له طالبانو سره يې فعالې اړيکې درلودې، او د هغوی چې دوښمنانان دي، وېشل شوې پاتې شوه. يو سلفي مشر اټکل کړی چې د هغه په ولسوالۍ دانګام کې، 30٪ سلفي ټولنه له طالبانو سره د ملګرتيا په اړيکو کې وه، او پاتې 70٪ يې ترينګلتيا درلوده.[132] دې هېڅ ګټه ونه کړه چې سلفيان د 2023 په لومړيو کې هم په کونړ کې څنډې ته پاتې شول، ځکه چې د دې ولايت ټول چارواکي حنفيان وو، او يوازې يو څو ټيټ پوړي د طالبانو په خلاف له سلفي ټولنې څخه وو.[133] طالبانو د ولسوالۍ له **شورا** سره منظمې ليدنې کولې او د کلي له **شورا** سره يې مهالنۍ ليدنې درلودې، خو د ولسوالۍ په **شورا** کې هېڅ سلفي ته ځای نه و ورکړل شوی، يا لږ تر لږه د کلي په ځينو **شوراګانو** کې. په همدې بنسټ، يو سلفي مشر شکايت وکړ چې 'طالبان نه غواړي چې له سلفيانو څخه ډېر شکايتونه، نه د دوی نظريات واوري'.[134] په څرګند ډول، د ترينګلتيا د کمولو د هڅې پر مهال، داسې ښکاري چې طالبان د خواصو تر منځ د جوړجاړي لور ته د تګ هېڅ اراده نه لري.

ان د طالبانو سرچينو هم ومنله چې د حنفيانو او سلفيانو تر منځ درزونو دوام پيدا کړ. د بېلګې په ډول، د 2022-23 په اوږدو کې، طالبانو ټينګار کاوه چې ټول امامان بايد د جمعې د لمانځه پر مهال د طالبانو امير (يا 'د دولت مشر')، ملا هبة الله اخوندزاده د اوږد عمر دعا وکړي؛ په کونړ کې سلفي علماوو د دې له منلو انکار وکړ. دې انکار کومې نوې ځپنې ته لاره خلاصه نه کړه، خو دې وښودله چې سلفي علماء د خپلې ژمنې سره سره، د امارت د ملاتړ لپاره په بشپړ ډول ژمن نه وو.[135] طالبانو دوی ته د امارت د رعيت په توګه د خونديتوب تضمين وړاندې کړی و، خو داسې ښکاري چې سلفيانو د يوې

129. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023؛ د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
130. د امارت د ولايتي ادارې له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
131. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023؛ د IS-K له يو پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
132. له سلفي **عالم** سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2023.
133. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
134. له سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023.
135. د امارت د GDI له افسر سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023؛ د امارت د ولايتي ادارې له مسئول سره مرکه، ننګرهار ولايت 2023 جنوري؛ د امارت د ولايتي ادارې له مسئول سره مرکه، کونړ ولايت، 2022 اپريل.

ګلچین جوجاړي غوښتنه کوله، یعنې په واک کې ګډون او اغېز لرل. د پایلې په توګه، له سلفي علماوو سره د طالبانو ښکېلتیا د 2022 تر پای پورې سړه شوه. په 2021-22 کې له دوه یا درې لیدنو څخه وروسته، دا لیدنې بندې شوې، او د طالبانو چارواکو دا نظر خپل کړ چې سلفي علماوو نه غوښتل، په بشپړه ډول د خپلې برخې معامله پلې کړي، او دا چې د دوی ډېریو یې لا هم له IS-K څخه ملاتړ کاوه.[136]

داسې ښکاري چې په ولایتي او ملي کچه د علماو په شوراګانو کې د پام وړ شمیر سلفي دیني عالمانو د شاملولو په اړه هیڅ ډول خبرې نه دي شوي، چې دا به د سلفي خواصو سره د خواصو تر منځ د جوړجاړي پر لور یو لوی ګام و.

136. د امارت د پولیسو د افسر سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ، 2023؛ د امارت د GDI له یو افسر سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.

# IV. د طالبانو تکتیکونو ته د IS-K ځواب

په داسې حال کې چې د طالبانو هڅو د IS-K په وړاندې لویې ننګونې پیدا کړې، ټول هغه تکتیکونه چې پورته تر بحث لاندې ونیول شول ګواښونکي نه وو، او یا په حقیقت کې داسې انګیرل شوي وه. داسې نه ښکاري چې IS-K د خپلو ملاتړو ملیشو په وړاندې د بې توپیره ځپلو په اړه اندیښمن و، او یوازینی ښکاره غبرګون یې د سلفي ټولنې د مدافع په توګه د ځان د وړاندې کولو د هڅو ګړندي کول و. د دې پر ځای د دې ډلې تمرکز د طالبانو د شنډولو هڅو ته غبرګون ښودل و، په ځانګړې ډول د هغو مبارزو په وړاندې چې هڅه یې کوله د سیمې او خلکو بشپړ واک په لاس کې واخلي.

## د شنډولو تکتیکونو ته غبرګونونه

حتی که طالبان د واک له نیولو سملاسي وروسته د افغانستان په لرې ختیځ (کونړ او نورستان) کې د لویو پوځي عملیاتو د تنظیمولو په موقف کې نه وای، IS-K په روښانه ډول د هغه احتمالي ګواښ په اړه پوهیدو چې دا چاره به یې وړاندې کړي. هغه مهال چې طالبانو د 2021 په اګست کې واک ترلاسه کړ، IS-K له اوږدې مودې راهیسې له دوی سره له مستقیمې مقابلې په شا شوي و، وروسته له هغې چې په 2019-20 کې څرګنده شوه چې د دوی ځواکونه نه شي کولای د پرانیستې جګړې په ډګر کې د طالبانو په وړاندې ودرېږي. [137] په لیرې ختیځ کې د IS-K پر مرکزونو د طالبانو له برید څخه د لوی ګواښ دا انګیرنه یوازې د 2021 کال د اګست څخه وروسته زیاته شوه، ځکه چې طالبان په هغه وخت کې د پخواني رژیم د ځواکونو سره په جګړه بوخت نه و. IS-K ډیر ژر د هغې پاتې سیمې واک خوشې کړ، چې لاییې هم په لاس کې وه (پورته د شنډولو او ټکولو د تکتیکونو بحث وګورئ). داسې ښکاریده چې دې ډلې په ختیځ کې د طالبانو د اټکل شوي برید د ځنډېدو، یا هلته د ځای پر ځای شویو طالبانو ځواکونو په وړاندې د چریکي جګړې په ترسره کولو سره د دې جګړې د غیر دوامداره کولو هیله درلوده، تر څو دوی مجبور کړي چې خپل ځواکونه په شا کړي – په داسې حال کې چې د غبږ سیمه بیزو غړیو (د چا پټېدل چې ستونزمن او ملاتړ یې سخت و) د شمېر په کمولو سره به د ځپلو اغېز کم کړي، او یوه پټه پراخه شبکه به رامنځ ته کړي.[138]

137. علي، 'Hit from Many Sides 1'؛ Antonio Giustozzi، 'لویه سیمه بیزه ماتې د افغانستان په ختیځ کې د اسلامي دولت شتون په جدي توګه کمزوری کوي'، Jane's Terrorism and Security Monitor، 12 دسمبر 2019.
138. په دې اړه، Sayed، Van Ostaeyen او Winter، 'د افغان طالبانو په وړاندې د اسلامي دولت د جګړې فهم'؛ Antonio Giustozzi، 'په خراسان کې د اسلامي دولت بحران'، کاري مقاله، LSE، راتلونکې 2023، وګورئ.

## ځنډ او انحراف

په داسې حال کې چې IS-K د کونړ او نورستان په ځينو برخو د واک ساتلو په لټه کې و، دوی په لويه کچه غير متناسبو تکتيکونو ته مخه کړه، لکه د ښاري ترهګرۍ سختوالی، د خرپ او ترپ بريدونه، کمينونه او ماينونه. دې هڅو په پيل کې لږې پايلې درلودې، او د IS-K مشرانو (د IS-K او نظامي شورا مشر) بايد د نويو ستراتيژيو په اړه فکر کولو ته دوام ورکړی وای. هغو ښارونو ته، چې IS-K تر اوسه پکې فعال نه و، لکه کندهار، هرات او مزار شريف، د واحدونو د لېږلو يو پلان د 2021 کال په پسرلي کې جوړ شوی و – يعنې د طالبانو له واک ته رسېدو مخکې – که څه هم دا د 2021 د اګست پورې په بشپړه توګه عملي نه شو. [139]

په اصل کې، د IS-K مشرتابه پريکړه وکړه چې په ښارونو کې د بريدونو په ترسره کولو سره طالبان مصروف وساتي، په دې محاسبې کولو سره چې د لسګونو واحدونو په خطر کې اچولو سره دوی کولای شي طالبان مجبور کړي د ښارونو ساتلو لپاره لسګونه زره سرتيري وګوماري. دا کمپاين په کابل او جلال اباد کې د IS-K د موجودو پټو شبکو د محدودو ظرفيتونو له امله يو څه سست پيل شو.

د 2021 کال په وروستيو پنځو مياشتو کې، IS-K وتوانيد چې په کابل کې د خپلو سترو ترهګريزو بريدونو شمېر د 2021 کال د لومړۍ نيمايي په پرتله له دوو څخه پنځو ته لوړ کړي. [140] په جلال اباد کې ښاري چريکي کړنو هم له لنډې ارامۍ وروسته دوام پيدا کړ، چې د سپتمبر په مياشت کې يې د شپږو بمي بريدونو په کولو سره لړۍ پيل شوه، وروسته د طالبانو د غړيو پر وړاندې ښاري چريکي جګړې څو مياشتې دوام درلود. [141] د طالبانو سرچينو په جلال اباد کې د هغه وخت وضعيت د 'IS-K ورځني بريدونه' وبلل. [142]

په ورته وخت کې، د 2021 کال په دوبي کې د واک د بې نظمه لېږد په اوږدو کې، IS-K وتوانيد څو ښارونو ته څو ډلې انتقال کړي، چې په کابل او جلال اباد کې يې خپل حضور پياوړی کړ، بلکې دې کار اجازه ورکړه چې خپل ترهګريز کمپاين هغو ښارونو ته وغځوي چې مخکې له دې د دې کمپاين په ترڅ کې اغيزمن شوي نه وو. په دې توګه په کندهار، هرات، مزار شريف، چاريکار، کندوز، فيض آباد او ګلبهار کې واحدونه جوړ شول. د دې واحدونو په منځ کې د جلب او جذب ټيمونه وو چې په ځانګړې توګه يې پوهنتونونه په نښه کول. د پايلې په توګه، په داسې حال کې چې IS-K وتوانيد په ښارونو کې د خپلو تروريستي بريدونو کمپاين ګړندی کړي، دا هيله يې هم درلوده چې پټ نوی ښاري جوړښت به په ځان بسيا شي. د IS-K يوې سرچينې ومنله چې دې ډلې واک ته د طالبانو د بې نظمه رسېدو له پړاو څخه ګټه پورته کړه، ترڅو خپل نور واحدونه ښارونو ته واستوي. [143] هغه څرګنده کړه، 'له دې امله

139. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، مۍ 2022.
140. Antonio Giustozzi، 'په افغانستان کې د اسلامي دولت په پراخه کچه د ډله ييزو تلفاتو په سختوالي کې شدت، د مالي تمويل د ننګونو او محدود عملياتي چاپېريال ښودنه کوي'، Jane's Terrorism and Insurgency Centre، 9 نومبر 2022.
141. Miriam Berger او Haq Nawaz Khan، 'اسلامي دولت په افغانستان کې د طالبانو په نښه کولو د بريدونو مسووليت په غاړه اخلي'، Washington Post، 19 سپتمبر 2021؛ France 24، 'Fear Stalks City in Islamic State's Afghan Heartland'.
142. د طالبانو له قوماندان سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2022؛ د امارت د ولايتي اداري له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.
143. د IS-K کدر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2022.

چې د طالبانو بېلابېلې ډلې له غرونو او ولسواليو څخه جلال اباد ښار او د افغانستان نورو ښارونو ته ننوتې، نو د طالبانو .... لپاره دا ډېره ستونزمنه وه چې هلته د داعش او طالبانو ترمنځ توپير وکړي'.[144]

د IS-K یوې سرچينې د 2022 په پيل کې اټکل وکړ چې د کابل ښار ډله، د کلونو په اوږدو کې له کمښت وروسته، په دوو جلا جوړښتونو کې 300 غړيو ته رسيدلې – د يو موخه يې د بريدونو چمتو کول او ترسره کول، او د بل يې جلب او جذب او تبليغاتي عمليات وو.[145] داسې برېښي چې د نوي رژيم د غافله کولو يو فرصت شته، سره له دې چې طالبان لاهم حيران دي چې دوی په واک کې دي، او د افغان دولت د بقا لپاره په خپلو هڅو کې له ډېرو بحرانونو سره مخ دي. په داسې حال کې چې دا معلومه ده طالبان په دوديزه جګړه کې د IS-K لپاره يوازې له يو سيال څخه زيات څه وو، IS-K هيله درلوده چې د تروريزم سره د مبارزې په برخه کې د طالبانو د تجربې نيشتوالی به څو سوه ترهګرو ته اجازه ورکړي چې په ښارونو کې ويجاړی وکړي، لکه څنګه چې حتی د طالبانو چارواکو هم د بحران نړيوالې ډلې ته تاييد کړې چې حالت همدا ډول و.[146]


له شدت سره سره، دا په کابل کې د تروريستي بريدونو د هدف د ټاکلو په برخه کې د پخواني حکومت پر وړاندې د IS-K د پخواني کمپاين دوام و. د کمپاين د نوي پړاو هدف هم مذهبي اقليتونه وو، لکه سيکان او تر ټولو زيات شيعه ټولنه. له ختيځ څخه د ځواکونو د ايستلو لپاره د طالبانو پر مجبورولو سربيره، داسې ښکاري چې اصلي موخه يې په ښارونو کې ګډوډي رامنځ ته کول، د پام وړ شيعه ټولنه د طالبانو د رژيم پر ضد بدلول (د هغوی په ساتنه کې د دوی د ناکامۍ له امله)، او د نوي حکومت بې کفايتي ښکاره کول و، په ځانګړې توګه په ښاري امنيت کې.[147] د 2022 په پسرلي کې، د IS-K عالي شورا، د خپل ستراتيژيک پلان د يو څه ښه کولو شرايطو ته په کتنې سره، پرېکړه وکړه چې په لويو ښارونو کې پر تروريزم تمرکز نور هم پياوړی کړي، د مسجدونو او ښوونځيو په څېر، د ډېرو نرمو اهدافو د پراخ انتخاب له لارې شيعه ټولنه په نښه کړي. د ډېرو احتمالي اهدافو ساتنه به طالبان اړ کړي چې د پام وړ بشري سرچينې تخصيص کړي، چې په دې سره به د IS ضد پراخو هڅو ته زيان ورسېږي.[148]

په عملي ډول، په 2022 کې د IS-K کمپاين يو څه ښکاره پايلې وښودې. د يو ځواب ورکوونکي په وينا، د IS-K د 'څېړنې او تفتيش' څانګې، چې د مشرتابه لپاره تحليلونه وړاندې کوي، د 2022 په جون کې يو داخلي راپور چمتو کړ، کوم چې دا په ګوته کوله چې د 2022 په پسرلي کې، IS-K په درې کلونو کې د بريدونو او پوځي فعاليتونو د 'ځلېدونکي حالت' (يعني د سرليکونو جوړول) تر ټولو لوړه شميره ترلاسه کړې وه.[149] د بې پرې معلوماتو راټولول ښيي چې د بمي بريدونو سرعت د 2022 کال د اپريل څخه تر جولای پورې په هره مياشت کې له 10 څخه پورته و، خو د هغه کال په وروستيو برخو کې په هره مياشت کې د دريو څخه تر شپږو پورې کميدل پيل شول (1 شکل وګورئ). ښايي د دې پايلې لامل د تروريزم پر ضد د طالبانو زياتېدونکی اغېزناک فعاليت وي. په هرصورت، دا هم امکان لري چې

144. *Ibid*.
145. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، فبروري 2022. په کابل کې د IS-K د واحدونو په اړه د معلوماتو لپاره، Giustozzi، 'يوه نابلده ننګونه' وګورئ.
146. د کړکیچ نړیواله ډله (International Crisis Group)، 'د طالبانو تر واک لاندې افغانستان کې امنيتي ننګونې'.
147. د Giustozzi، 'په افغانستان کې د اسلامي دولت په پراخه کچه د ډله ييزو تلفاتو په سختوالي کې شدت، د مالي تمويل د ننګونو او محدود عملياتي چاپېريال ښودنه کوي'، وګورئ.
148. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، مې 2022؛ د IS-K له لوړپوړي کدر سره مرکه، کونړ ولايت، مې 2022.
149. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، مې 2022.

له لرې ختيځ څخه بې ځايه کېدل هم په لويه پيمانه تر سره شوي وي، او IS-K په کابل کې تروريستي بريدونه خورا دوامداري کچې ته راټيټ کړي وي.

**شکل 1:** د IS-K فعاليت او د طالبانو د تروريزم ضد عمليات، 2022-23.




سرچينه: **افغان شاهد،** 'طالبان د می په میاشت کې د ISKP په وړاندې بريدونو ته دوام ورکوي، په کابل کې د مرستيال والي د وژلو ادعا کوي'، 1 جون 2023، <https://www.afghanwitness.org/reports/taliban-continue-raids-against-iskp-in-may%2C-claim-killing-of-deputy-governor-in-kabul>، په 9 اکتوبر 2023 ورته لاسرسی شوی. په انځور کې، 'نيونې' او 'نښتې/ بريدونه' د IS-K پر ضد د طالبانو عملياتو ته اشاره کوي. د اجازې پر بنسټ بيا وړاندې شوی.

## کمول

د دې لپاره چې په افغانستان کې دننه اکمالاتو ته اړتيا کمه شي او همدا راز له دې امله چې په داخل کې د غیر افغان غړو د خوندي کولو وړتيا نه لري، د 2021 په وروستيو او د 2022 په لومړيو کې IS-K خپل ډېر پاکستاني غړي د پولې هاخوا ته انتقال کړل.[150] د طالبانو سرچينو هم نه يوازې د پاکستانيانو، بلکې له ختيځ څخه د منځنۍ اسيا، چيچنيايانو او نورو غير افغانانو د ورکېدو يادونه کړې او ګومان کوي چې هغوی هم له پولې تېر شوي دي.[151]

په ختيځ کې د مرکزونو د خالي کولو بهير اته مياشتې وخت ونيو؛ ان له دې وروسته د يو څه مودې لپاره د IS-K غړي په ځانګړې توګه د مشرتابه او اداري کدرونو په پام کې نيولو سره، په غارونو او نورو پټو ځايونو کې پټ شوي وو، په داسې حال کې چې د دوی د ليږد تنظيمول روان و. دايمي مرکزونه د 2022 په اوږدو کې په پټو زېربناوو بدل شول، نه يوازې په کونړ، بلکې د ننګرهار په ځينو برخو کې هم چې په اچين، نازيانو، لعل پور، پچير اګام، بټي کوټ، مهمند دره او جلال اباد ښار کې پټ واحدونه جوړ کړای شول. حتی په داسې حال کې چې طالبانو په جلال اباد کې د دوی واحدونو له

150. د IS-K د لوړ پوړو کدرونو سره مرکه، کونړ ولايت، می 2022؛ د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، می 2022.
151. د طالبانو له قوماندان سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2022؛ د امارت د ولايتي اداري له چارواکي سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022؛ د امارت د پوليسو د افسر سره مرکه، کونړ ولايت، اپريل 2022.

منځه وړلو ته دوام ورکړ، IS-K وکولای شول هلته خپل حضور وساتي.[152] ځايي مشرانو د IS-K د شتون د څرګندو نښو ورکېدل تاييد کړل، خو په دې باوري وو چې دې ډلې پټ واحدونه ساتلي دي.[153] د 2023 په جنوري کې، د طالبانو په اداره کې يوې سرچينې وويل چې په ننګرهار کې د IS-K شتون په جلال اباد کې د IS-K له ځينو واحدونو او د اچين او نازيانو په څېر ځينو ولسواليو کې له يو څخه تر دوه پورې واحدونو څخه جوړ دی.[154] د 2023 د مارچ تر مياشتې پورې، د پوليسو سره د بنديانو د اعترافونو پر بنسټ په جلال آباد کې د IS-K 16 واحدونو شتون درلود، خو دې واحدونو په خپلواکه توګه فعاليت کاوه او د هغوی تعقيب ستونزمن کار و.[155]

د پټ حرکت سره په يو وخت کې، IS-K هم هڅه وکړه چې د کوچنيو، منتشرو واحدونو د ملاتړ لپاره ګرځنده زيربنا غوره کړي، يوه پروسه چې د 2022 په اوږدو کې يې دوام وکړ. يو کال وروسته له دې چې د 2022 په پسرلي کې د ستراتيژيک بدلون پريکړه وشوه، د IS-K يوې سرچينې د يو بشپړ حقيقت په توګه يوه نوې، کمزورې او ډېره ګرځنده زيربنا وړاکله چې د زړې ثابتې زېربنا ځای يې ونيو:

> داعش په کونړ ولايت کې روزنيز مرکزونه او ګڼ شمېر پټ واحدونه او پټې پوځې اډې لري، خو هر وخت خپل ځايونه بدلوي. داعش د حرکت په حال کې دی - روزنيز مرکز، پوځې اډې [او] پټ واحدونه ټول يې په هرو دريو يا څلورو مياشتو کې بدليږي. کله چې د داعش کوم غړی د طالبانو له خوا ونيول شي يا تسليم شي، داعش سمدلاسه معلوموي چې دا کسان چيرته روزل شوي او کومو پوستو يا پټو واحدونو کې ګومارل شوي او بيا يې ځايونه بدلوي.[156]

د طالبانو سرچينو تاييد کړه چې IS-K خلک شمال ختيځ او شمال ته ليږدولي او حتی ادعا يې کړې چې په ننګرهار کې د IS-K د فعاليتونو د سقوط لامل تر يو بريده د IS-K وتل و.[157]

په داسې حال کې چې IS-K د کمولو دا کړنې په چټکۍ سره پلي کړې، بيا هم حالت دا دی چې دوی په دومره اندازه کې نه دي چې د دې ډلې د فعاليتونو د محدودولو مخه ونيسي. خپلو غړو ته د IS-K په پيغامونو کې د ښو دلايلو پر بنسټ د ختيځ د راکمولو يادونه نه ده شوې. داسې ښکاري چې دا يوه ستونزمنه پريکړه وه، په دې شرط چې د دې ډلې ډېری افغان غړي د ختيځ څخه وو، او هلته يې کورنۍ درلودلې. د 2022 په پيل کې، د IS-K سرچينې لاهم په دې باور وې چې دوی به ژر تر ژره ځګړه پيل کړي، په ختيځ کې د دوی مرکزونه خوندي دي، او دوی په ختيځ کې د طالبانو د ماتولو لپاره کافي ځواک لري.[158] د افغانستان په ختيځ (ننګرهار، کونړ او نورستان) کې د IS-K د اصلي مرکزونو د لرلو لپاره دليل لا هم د 2022 کال تر نيمايي پورې د IS-K د سرچينو له خوا په دې ډول په ډاګه کېدو "په دې ولايتونو کې ډېر سلفي خلک او مدرسې شته چې ډېری سلفيت پلويان د IS-K ملاتړ کوي".[159]

---

152. د طالبانو له قوماندان سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2022؛ د امارت د پوليسو د افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023؛ د IS-K پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023.
153. له سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولايت، اپريل 2023.
154. د امارت د ولايتي اداري له چارواکي سره مرکه، ننګرهار ولايت، جنوري 2023.
155. د امارت د پوليسو له افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
156. د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولايت، مارچ 2023.
157. د امارت د پوليسو له افسر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2023.
158. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، 2022 فبروري؛ د IS-K له کدر سره مرکه، ننګرهار ولايت، مارچ 2022.
159. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولايت، مې 2022.

پر دې حقیت پوهېدو او منلو د IS-K له سرچینو تر 2023 پورې وخت ونیو چې IS-K لږ تر لږه په لنډه او منځمهاله موده کې د سیمې د نیولو لپاره هر ډول تمه پرېښې وه.[160]

هغه خنډونه چې انتقال د IS-K په فعالیتونو وضع کړل، هغه مهال روښانه کېږي، کله چې موږ په ختیځ کې د دې ډلې چریکي عملیاتو ته کتنه کوو. په داسې حال کې چې انتقال روان و، IS-K، د افغانستان په ختیځ کې د چریکي جګړې د پام وړ دوام هڅه وکړه. چریکي جګړه په خپله دایره کې محدوده وه، یوازې کونړ او تر لږه بریده پورې یې د ننګرهار ولایت اغېزمن کړل. د 2021 د دوبي په وروستیو کې د چریکي فعالیتونو شدت زیات شو، په ځانګړې توګه په غازي آباد، ناړۍ او شیګل کې. که څه هم په دې کې ډېری د طالبانو پر پوستو د برید او تېښتې کوچني بریدونه او کوچني کمینونه شامل وو، د طالبانو په غوصه کولو یې پیل وکړ. د 2022 په پسرلي کې، د IS-K عالي شورا، په داسې حال کې چې په ښارونو کې د ترورېستي کمپاین د شدت پرېکړه وکړه، د امکان په صورت کې د طالبانو په وړاندې د چریکي جګړې د دوام پرېکړه هم تایید کړه. [161] په هر حال، ثابته شوه چې په ختیځ کې پاتې شوی نوی جوړښت نه شي کولای یا نه غواړي چې د ثابت یاغیتوب ملاتړ وکړي. په ننګرهار کې د IS-K چریکي بریدونه په ځانګړې توګه ډېر کم پاتې شول. د تیرو څو ثبت شویو بریدونو څخه یو د 2022 په فبروري کې په اچین کې یو برید و چې د طالبانو دوه غړي یې ووژل. [162]

په کونړ کې، انځور همدا ډول و. په یوه تر ټولو بده پېښه کې په شیګل کې د طالبانو پر یو کاروان برید وشو او 'څو تنه طالب جنګیالي شهیدان شول'. [163] د کونړ د دانګام په ځنګلي سیمو کې، پرته له کوم پوځي فعالیت څخه د IS-K شتون دوام پیدا کړ. پاتې کسان سیمه ییز غړي وو، چې د راپورونو له مخې په احتیاطي ډول ساتل شوي و او شونې ده چې په بل ځای کې د بریدونو د پلان کولو د ملاتړ لپاره وو. د راپورونو تر مخې د IS-K ډېری غړي شمال ختیځ او شمالي افغانستان ته تللي وو (لاندې وګورئ).[164] شونې ده چې دې چارې په ختیځ کې د چریکي عملیاتو پر وړاندې تګ اغېزمن کړی وي، یوازې د شمېر د کمښت له امله نه، بلکې له دې امله هم چې د سیمه ییزو غړو کم پاتې کېدل غوره کړي و، او د دوی د بهرنیو او له سیمې څخه د باندې جنګیالیو په پرتله، پټېدل تر ډېره بریده ممکن و. څنګه چې د غېر سیمه ییزو جنګیالیو شتون له منځه ولاړ، د چریکي فعالیتونو کچه نوره هم راټیټه شوې. یوې خپلواکې ارزونې وموندله چې IS-K د 2022 په لومړۍ نیمایي کې په هره میاشت کې له 5 څخه تر 10 پورې د چریکي بریدونو د ساتلو توان درلود. په هر حال، شمېرې د کال په دویمه نیمایي کې له دوو څخه تر پنځو پورې راښکته شوې (شکل 1 وګورئ، چېرته چې چریکي بریدونه د 'توپک' په کټګورۍ کې لیست شوي دي).

IS-K هم هڅه وکړه چې د طالبانو له خوا د مالي خنډونو پیدا کولو عملیاتو سره په ځان برابرولو ځواب ووايي. له دې خبرونو سره په ټکر کې چې د IS-K شبکې په ترکیه کې ستره ضربه خوړلې، د IS-K سرچینو څرګنده کړه چې دې سازمان په بریالیتوب سره مقابله وکړه، په UAE کې یې خپل زوړ مالي مرکز بیا فعال کړ، چېرته به چې د افغان **حوالې** د ډېرو تجارانو شتون له دوی سره د ګډون کونکو پیدا

160. د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.
161. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022؛ د IS-K له لوړپوړي کدر سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022.
162. د طالبانو له قوماندان سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2022.
163. د امارت د پولیسو له افسر سره مرکه، کونړ ولایت، اپریل 2022.
164. له سلفي **عالم** سره مرکه، کونړ ولایت، اپریل 2023.

کول اسانه کړي. سرچینې باید منلې وای چې په افغانستان کې د تر لاسه کولو پر مهال یو خنډ موجود و، ځکه چې د **حوالې** تجاران د نیول کېدو څخه وېرېدل. هغه زیاته هڅه وکړه چې یو خوشبین انځور وړاندې کړي، یادونه یې وکړه چې د پیسو د لېږد نورې لارې په ترکیه کې د پېچلو سوداګریزو او د استانبول او کابل ترمنځ د الوتنو له لارې، د کابل په هوايي ډګر کې د ځینو کارکونکو په مرسته ازمویل شوې وې. د هغه یو همکار دا وړاندیز هم وکړ چې د IS-K مالي ځینه د دسمبر 2022 څخه تر جنورۍ 2023 پورې د کمېدو په حال کې وه.[165]

# د پخلاینې او بیا یوځای کیدو معاملو ته ځواب

داسې ښکاري چې د IS-K لپاره بله اصلي اندېښنه د طالبانو د سیمه ییزې پخلاینې او بیا یوځای کیدو هڅو سره د مبارزې په اړه وه، کوم څه چې په کلیو کې د ځینو سلفي مشرانو ملاتړ درلود (پورته بحث وګورئ). داسې ښکاري چې دې ډلې دې ته د منځمهاله تر ټولو لوی ګواښ په توګه کتلې دي. IS-K په 2021-22 کې په مشرانو فشار واردول پیل کړل، تر څو د IS-K د غړو او طالبانو ترمنځ مذاکراتو کې اسانتیا برابره نه کړي. یو تسلیم شوي غړي د کلیوالو څخه اوریدلي چې 'داعش ډېره هڅه کوي چې دا بهیر کمزوری کړي. یو شمېر مشران چې په پټه یې د مذاکراتو زمینه برابره کړې وه او د تسلیمۍ لپاره یې د IS-K د غړیو او طالبانو تر منځ اړیکه جوړه کړې وه، ګواښل شوي دي.'[166]

نورو تسلیم شویو هم دا تایید کړه او زیاته یې کړه چې په ګواښونو کې د مرګ ګواښونه او د هر معامله کونکي کور سوځول شامل و. د تسلیم شویو غړیو څخه یو تن ادعا کړې وه چې هغه او په یوځ کې د هغه دوه پخواني ملګري د IS-K له خوا ګواښل شوي؛ هغه وویل، دې ډلې ګواښ کړی چې 'زما کور ته به اور ورته کړي او ما به په لمبو کې وغورځوي'. د ده په وینا، د هغه د کلي دوه مشران چې له طالبانو سره یې مرسته کړې وه، هم ګواښل شوي او په پایله کې یې د تسلیمۍ په خبرو کې له ګډون ډډه کړې وه.[167] ان تر دې چې یو تن یې خبر ورکړ چې په ننګرهار کې د IS-K نهه تسلیم شوي غړي بیرته له IS-K سره یو ځای شوي، که څه هم دا څرګنده نه ده چې دا کار د ګواښونو له امله شوی او که د طالبانو له خوا د ترون د کمزوري تطبیق له امله. [168] IS-K همدارنګه په خپلو لیکو کې د استخباراتو ضد هڅې زیاتې کړې. دا متقابل اقدامات د IS-K د یو شمیر پخوانیو غړو له خوا اغیزناک ګڼل شوي، کوم چې په دې باور وو چې تسلیمیدل کم شوي او یا حتی ودریدلي دي. [169] له دې داسې بریښي چې IS-K د بې توپیره ځپلو په پرتله د پخلاینې/بیا یوځای کیدو پلانونو څخه ډېره ویره لري.

165. د IS-K په مالي کمیسون کې له کدر سره مرکه، افغانستان، جنوري 2023؛ د IS-K مالي کمیسیون کې د لوړ پوړي کدر سره مرکه، جنوري 2023.
166. د IS-K له پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.
167. د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، کونړ ولایت، مارچ 2023.
168. د IS-K د پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.
169. د IS-K له یو پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له یو پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له یو پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K له یو پخواني غړي سره مرکه، ننګرهار ولایت، مارچ 2023.

# د طالبانو د خواصو لنډمهالي جوړجاړي معاملې ته ځواب

د سلفي علماو سره د طالبانو د بریالیو مذاکراتو د کمښت له امله، ښايي چې IS-K د سلفي علماو سره د دوی مذاکراتو ته ځواب یو لومړیتوب نه وي ګڼلی – که څه هم امکان لري چې دې په سلفي علماوو فشار راوړی وي چې له طالبانو څخه لرې پاتې شي. د 2022 په دوبي کې د طالبانو پر پلویانو دیني علماوو د IS-K د بریدونو لنډ کمپاین هم ممکن د سلفي دیني علماوو په وړاندې د طالبانو د غچ اخیستو او له هغوی سره د طالبانو د مذاکراتو د خرابولو په موخه تر سره شوی وي. ښايي چې د 2022 کال د سپتمبر په میاشت کې په هرات کې د رحمان انصاري وژنه هم یو خبرداری وي، ځکه چې انصاري یو سلفي مبلغ و چا چې طالبانو سره د وفادارۍ ژمنه کړې وه. IS-K د وژنې پړه په غاړه نه ده اخیستې.[170] په مني کې کمپاین پرېښودل شو، ښايي له دې امله وي چې دا روښانه کېدل پیل شول چې IS-K له سلفي علماوو سره د طالبانو د مذاکراتو په اړه اندېښنې ته اړتیا نه لري.

# د IS-K ځوابي بریدونه

په داسې حال کې چې IS-K د طالبانو د تکتیکونو سره د مقابلې یا لږ تر لږه د زیانونو د محدودولو په لټه کې و، مشرتابه یې پریکړه وکړه چې په هغو ځایونو کې پر طالبانو برید کولو سره د اوږدې مودې لپاره له لاسه وتلي نوښت بیا ترلاسه کولو هڅه وکړي، چېرته چې دوی احساس کاوه چې طالبان په اسانۍ سره په نښه کېدای شي. د ښاري تروریزم کمپاین، چې پورته ورباندې خبرې وشوې، تر ډېره بریده د ځوابي برید پر ځای یو انحراف و. د دې پر ځای، داسې ښکاري چې IS-K په شمال کې د خپلې پراختیا د وضعیت د بدلولو پورې خپلې هیلې تړلې وې. په شمال کې د جلب او جذب د پراخولو پلانونه د 2020 په نیمايي کې پیل شول (په 2017-18 کې د پخوانۍ پرېښودل شوې هڅې څخه وروسته).[171] لږ شمیر افغان پښتانه او حتی پاکستانیان هم شمال ته لیږل شوي وو.[172] له 2021 وروسته، دغه هڅې لا پیاوړې شوې، او حتی په راتلونکي کې د IS-K د مرکزي دفتر د لیږدولو په اړه فکر وشو.[173]

د 2022 په نیمايي کې، د راپورونو له مخې د IS-K مشرتابه لا هم په کونړ کې و، خو شمال ته د لیږد نوی پړاو څو میاشتې مخکې پیل شوی و. شمال او شمال ختیځ ته د خلکو او سرچینو حرکت دوام درلود، لکه څنګه چې دواړو د طالبانو د پولیسو یو افسر او سیمه ییز مشر تایید کړه.[174] د IS-K سرچینو له دې ادعا سره د دې انتقال خبره وکړه چې دا منځنی اسیا ته د جهاد د وړلو لپاره و. د IS-K سرچینې په بدخشان، کندوز او جوزجان کې د روزنیزو مرکزونو د جوړېدو خبره کړې او په پام کې لري چې

170. AFP، 'کابل کې د اسلامي دولت د ځانمرګي برید له امله د طالبانو یو جګپوړی دیني عالم ووژل شو'، د 2022 اګست 11؛ AP News، 'د افغانستان په جومات کې چاودنې د طالبانو د یو ملا په ګډون 18 تنه ووژل'، د 2022 د سپتمبر 2؛ ابوبکر صدیق، 'جګپوړي دیني عالمان له IS-K سره د طالبانو د سختې جګړې په پایله کې ونیول شول'، **کندهارا**، 2022 د اګست 24؛ BBC News، 'مجیب الرحمن انصاري: د هرات په مسجد کې چاودنې د طالبانو ملا وواژه'، 2022 سپتمبر 2.
171. د IS-K د لوړ پوړو کدرونو سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022.
172. *Ibid*.
173. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022؛ د IS-K له لوپوړي کدر سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022.
174. د امارت د پولیسو د افسر سره مرکه، کونړ ولایت، اپریل 2022؛ د سلفي مشر سره مرکه، ننګرهار ولایت، اپریل 2023.

په بلخ کې هم یو پرانیزي.[175] لکه څنګه چې IS-K هم په ډرامایي ډول په ټولنیزو رسنیو کې خپل فعالیتونه پراخ کړل، د پام وړ تبلیغاتو خپرول یې پیل کړل، لکه په ازبکستاني، تاجکستاني او اویغوري ژبو کې اعلامیې او رسالې، ترڅو منځنۍ آسیا ته د ژر پیښیدونکې پراختیا د ادعاوو ملاتړ وکړي.[176]

داسې ښکاري چې IS-K د 2022 په پسرلي کې د طالبانو له خپلمنځي شخړې څخه په ګټه پورته کولو سره، فاریاب او شمال لویدیځ ته د ګړندۍ پراختیا تمه درلوده.[177] په عمومي توګه، دا روښانه ده چې پر شمال د تمرکز د بدلون یو اصلي لامل د طالبانو له لیکو څخه د زیاتو خلکو د وتلو تمه وه.[178] دا چاره د پام وړ کچه کې تر سره نه شوه. کله چې د IS-K له یوې سرچینې تفصیلات وپوښتل شول، نو دې سرچینې وکولای شول چې یوازې د 2021 کال د اګست څخه د 2022 تر نیمایي پورې موده کې د معمولي جلا کېدو شمېرې وړاندې کړي: 'په شمال کې یو څو قوماندانان'، او ځینو نورو سره د 2022 تر نیمایي پورې خبرې روانې دي.[179]

د IS-K د 'متقابلو عملیاتو' بل اړخ د رسنیو په تمرکز د سمبولیکو بریدونو په تر سره کولو سره، د دې ډلې محدودې لاسته راوړنې وې، لکه د افغانستان له خاورې پر ازبکستان او تاجکستان راکټي بریدونه، چې کوم زیان یې نه دی اړولی، خو په رسنیو کې په لوړه کچه څرګند شول.[180] د IS-K د ستراتیژۍ یوه مهمه برخه د خپلو نظامي او تبلیغاتي کمپاینونو یوځای کول و. د تروریستي کمپاین انځوریز تفصیلات د IS-K د ټولنیزو رسنیو د تبلیغاتو له خوا کارول شوي و، ترڅو د قدرت او ځواک یو انځور وړاندې کړي، کوم چې د واقعیت له هر ډول تناسب څخه لېرې و.[181] په ټوله کې، د IS-K مشرتابه د خپلو ستونزو د کچې په پټولو کې په ښه توګه بریالی شو. سیمه ایزو او نړیوالو رسنیو، او همدارنګه پالیسي جوړونکو، د یو ډیر ګواښونکي سازمان په توګه د دې انځورولو ته دوام ورکړ، سره له دې چې نظامي لاسته راوړنې یې تقریبا د پام وړ نه وې.[182]

که څه هم دا اندازه کول ګران دي چې د IS-K غړو او خواخوږو دې تبلیغاتو ته څه ډول غبرګون ښودلی، خو دا څرګنده ده چې یوه موخه یې د مخ په زیاتیدونکو خورو ورو غړو مورال لوړول او دوی قانع کول و چې جهاد بریالی کېدونکی دی. IS-K هڅه وکړه چې د طالبانو لاسته راوړنې کمې کړي او

175. د کونړ ولایت د IS-K له قوماندان سره مرکه، 2022 کال جون؛ د IS-K له قوماندان سره مرکه، نورستان ولایت، جون 2022.
176. د نورو جزیاتو لپاره، Giustozzi 'یوه نابلده ننګونه'؛ Riccardo Valle، 'په خراسان ولایت کې اسلامي دولت له طالبانو سره د پیاوړو رسنیو او سختو تبلیغاتي په مټ مقابله کوي'، Terrorism Monitor 16 دسمبر2021؛ Suraj Ganesan او Mohammed Sinan Siyech، 'اسلامي دولت آن لاین: په بدیلو پلیټ فارمونو کې د دې ډلې د سویلي اسیا شتون ته یوه کتنه'، Global Network on Extremism and Technology، 27 فبروري 2023، وګورئ. د IS-K د تبلیغاتو د پایلې د حجم په اړه د ارقامو لپاره، Abdul Sayed او Tore Refslund Hamming، 'په افغانستان او سویلي اسیا کې د اسلامي دولت مخ پر ودې ګواښ'، USIP، 2023، مخ 11، وګورئ.
177. د IS-K د لوړ پوړو کدرونو سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022.
178. *Ibid*.
179. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، جون 2022.
180. Sudha Ramachandran، 'په ازبکستان او تاجکستان کې د ISKP بریدونه'، *CACI Analys*، 31 اګست 2022.
181. د IS-K د تبلیغاتو په اړه، د Giustozzi، 'یوه نابلده ننګونه'؛ او Giustozzi، 'په خراسان کې د اسلامي دولت بحران'، وګورئ.
182. د مثال په ډول، د وسله والو خدماتو په اړه د متحده ایالاتو د سنا کمیټې ته، د متحده ایالاتو د مرکزي قوماندې د قوماندان General Michael Kurilla شاهدي، 16 مارچ 2023، مخونه. 13، 31-32 وګورئ< https://www.armed-services.senate.gov/imo/media/doc/23-12_03-16-2023.pdf د 2023 اکتوبر په 9 مه ورته لاسرسی شوی.

د غچ اخیستلو احساساتو ته وده ورکړي، د بیلګې په توګه په دې ادعا کولو سره چې طالبانو قصداً په ښاري واحدونو د خپلو بریدونو په ترڅ کې د IS-K د غړو د کورنۍ غړي وژلي دي.[183]

په پیل کې طالبان په هېښونکي ډول د IS-K د ځیرکو تبلیغاتو پراخو پایلو حیران کړل. GDI په ټولنیزو رسنیو کې د IS-K فعالیت په نښه کولو، د IS-K د استخدام له هڅو څخه په ګټې اخیستنې په هغوی کې د خپلو مامورینو د ننویستلو له لارې ځواب ووایه، او د ځینو ان لاین فعالینو په نیولو کې بریالي شول. هغوی همداراز وکولای شول چې د IS-K سره تړلیو یو شمېر حسابونو کنټرول په لاس کې واخلي، او زیات اغېزناک متقابل تبلیغات وکړي. [184] د طالبانو د تبلیغاتو یوه مهمه موضوع، د کافرانو په توګه د IS-K انځورول و، چې د دولتي رسنیو او همدارنګه په ټولنیزو رسنیو کې خپره شوې وه. د طالبانو یو پلوي **عالم** استدلال وکړ چې د IS-K له غړو سره باید د **خوارجو** [کافرانو] په څېر چلند وشي او د دوی شرعي سزاګانې باید ځړول یا سر پرې کول وي.[185] یو بل **عالم** استدلال وکړ چې د IS-K غړي 'ټول **خوارج**' دي او دا عقیده روښانه ده چې د اسلامي قانون له مخې د دې لپاره سزا مرګ دی.[186] په هر حال، د 2022 په پای کې په ټولیز ډول ان لاین تبلیغات هغه یوازینۍ حوزه وه چې IS-K ورباندې تسلط درلود.

## په 22-2021 کې پر IS-K ټولیزه اغېزه

که څه هم د IS-K تبلیغاتو په دوامداره توګه ادعا کوله چې د دوی شمیر مخ په ډېریدو دی، کله چې د تفصیلاتو غوښتنه وشوه، سرچینو هغه شمېرې وړاندې کړې چې په حقیقت کې دا ښیي چې د دې ډلې شمېر په 22-2021 کې په مناسب ډول ثابت شوی دی، او په ټولیز ډول له 8000 کسانو څخه کم و. [187] د 2022 جون په میاشت کې ادعا شوې وه چې د دوی ډیری یې له مخکې څخه په شمال/شمال ختیځ کې وو، د یوې سرچینې په وینا، چې هغه خپله هم له ختیځ څخه هلته د انتقال په حال کې و.[188]

د IS-K سرچینو دا ادعا هم کړې چې په 2022 کې جلب او جذب پیاوړی و. کله چې دا شمېرې وننګول شوې، د IS-K دوه سرچینو نږدې یو ډول وړاندې کړل: په IS-K کې ټول تازه جلب او جذب د 2022 کال د نیمایي میاشتو تر مخې د 150-200 تر منځ اټکل شوی و . د جذب شویو اصلي سرچینې لا تر اوسه د 'سلفي مدرسو، ښوونځیو، مسجدونو [او] عالمانو' په توګه پېژندل شوي دي.[189] لکه څنګه چې په بل ځای کې یادونه شوې، په پوهنتونونو کې د IS-K جلب او جذب په هر کال کې په کمو سلو کې اټکل کېدای شي. [190] په ټولیزه توګه، دا شمېرې په پرتلیز ډول کمې ښکاري، دې ته په پام سره چې

183. *South Asia Times*، 'افغانستان: د پام وړ، څو ورځې وړاندې، د العزایم ویډیو "خونړی کوڅې" طالبانو ته خبرداری ورکړ چې د ISKP پر پېتځایونو د IEA د عملیاتو په ترڅ کې د وژل شویو ښځو او ماشومانو غچ به واخلي'، په ټویټر کې پوسټ (اوس د X په نوم یادیږي) 12 اګست 2022.
184. د نورو جزیاتو لپاره، Giustozzi، 'یوه نابلده ننګونه'، وګورئ.
185. له **عالم** سره مرکه، ننګرهار ولایت، نومبر 2022.
186. له **عالم** سره مرکه، ننګرهار ولایت، نومبر 2022.
187. د IS-K له کدر سره مرکه، بدخشان ولایت، اپریل 2023؛ د IS-K د مرکزي آسیا له قوماندان سره مرکه، له ازبکستان څخه، چې د افغانستان په شمال کې فعالیت کوي، سپتمبر 2022.
188. د IS-K له قوماندان سره مرکه، نورستان ولایت، جون 2022.
189. د IS-K له قوماندان سره مرکه، کونړ ولایت، می 2022.
190. Giustozzi، 'یوه نابلده ننګونه'، مخ. 21.

IS-K د زیانونو او د انحرافاتو سره مخ و، او دا شمېرې په دې موده کې د IS-K په څواک کې د پام وړ رکود سره سمون لري.

په مجموع کې، IS-K وتوانید چې خپل کاري ځواک وساتي او داسې ښکاري چې د خپلو فعالیتونو کچه او ځانګړتیا یې د جلب او جذب او احتمالي مصرف له ورتیا سره برابره کړې ده. په هر حال، په دې موده کې طالبانو په چټکۍ سره خپل بشري ځواک پراخه کاوه. په بشپړه توګه پېټ ترکیب ته د IS-K لیږد په کافي اندازه اسانه و، په داسې حال کې چې د دوی انحراف د ځو میاشتو لپاره د طالبانو د پام اړولو په برخه کې بریالی شو. په هرحال، دا روښانه ده چې دا ډله نه وه توانیدلې، دا نوښت بیرته په لاس کې واخلي او داسې ښکاري چې د هغوی مالي ستونزې مخ په ډېریدو دي.

# پایله

طالبانو د 2021 له اګست وروسته، د IS-K سره د مقابلې لپاره خپل تکتیکونه څه ډول جوړ کړل؟ او دا تکتیکونه له دې ډلې سره په جګړه کې څومره بریالي شوي؟ توپیري تاوتریخوالی په چټکۍ سره د طالبانو د پالیسي جوړونکو ټاکلی انتخاب وګرځېد. په هرحال، د افراطیانو، د ملاتړې ملیشو او 'چوپتیا خوښو' تر منځ د پولو پیژندل تل جنجالي و. دا هم باید په پام کې ونیول شي داسې ښکاري چې طالبانو په قصدي ډول له بې توپیره تاوتریخوالی څخه کار اخیستی، ترڅو دوښمنو خلکو ته خبرداری ورکړي چې له امارت سره هر اړخیزه جګړه به د دوی لپاره څه معنی ولري، او دوی ووېروي تر څو تسلیم شي. د IS سره د طالبانو د مبارزې د هڅو یو اړخ چې له دې مقالې څخه روښانه کېږي، دا دی چې ځېل، او ان بې توپیره ځېل، او د پخلاینې معاملې د دواړو خواوو لپاره کار ورکونکې ښکارېدې: یعنې ستاینه او سزا. نوی دولت باید ښودلی وای چې دا د یو تجارت معنا لري، او دا چې د سلفي ټولنې د همکارۍ څخه انکار کولو په صورت کې توان لري چې د نه زغمل کېدو تکلیف ورسوي.

داسې ښکاري چې د IS-K مشرتابه په چټکۍ سره د طالبانو برابرېدلو وړتیا کمه ارزولې وه. د طالبانو استخباراتو د ځینو څرګندو محدودیتونو سره سره، په چټکۍ وکولای شول چې د جاسوسانو یوه پراخه او غټه شبکه جوړه کړي. د یاغیانو په توګه، طالبانو یوه ښه پرمختللې استخباراتي شبکه درلوده، او دوی دا خپله کړې ده؛ داسې ښکاري چې دوی په خپله استخباراتي اداره کې پانګونې ته لومړیتوب ورکړی دی. د IS بې رحمانه چلند ته په کتنې سره، د دوی لپاره دا اسانه وه چې د خیر په غوښتونکو ناستو لیدونکو همکاري ترلاسه کړي. د ملي مشرتابه په کچه، داسې بریښي چې د تاوتریخوالی په یو جریان کې د را ایساریدو په اړوند یو تفاهم موجود و، او د ولایتي چارواکو د زور زیاتي د مخنیوي لپاره مداخلې موجودې وې، په ځانګړې توګه کله چې نوي امنیتي دستګاه پیاوړې شوه. طالبانو د توپیري ځپلو د پلې کولو لپاره د پیچلو وسیلو په جوړولو سره د سمون وړتیا ښودلې، د بېلګې په توګه، د ټولنیزو رسنیو د نفوذ د ټیمونو د جوړولو له لارې. بیا هم، کله چې د نیمګړو استخباراتو له امله د توپیري ځپلو پلي کول ستونزمن ثابت شي، د طالبانو سیمه ییز چارواکي معمولا بې توپیره تاوتریخوالي ته د بېرته راستنیدو په اړه هیڅ اندیښنه نه لري، حتی که کچه یې هېڅله د 2021 کال د منې د موسم د تاوتریخوالي اصلي څپې ته نږدې هم نه وي. په دې برخه کې د یادونې وړ ده چې طالبان د IS پر وړاندې د مبارزې لپاره د قانون د حاکمیت په پلي کولو کې پاتې راغلي دي. ان چې نظام د اسلامي قانون له لیدلوري هم د ناسم چلند ښکار ګرځېدلی، او د زور زیاتي مخنیوی د تل لپاره د لوړ پوړو چارواکو په مداخلو پورې تړلي و

طالبانو هم په لنډمهاله توګه د سلفي ټولنو سره د سیمه ییزې پخلاینې په معاملو کار پیل کړ، خو د کابل له خوا په کمزوري ډول د دې هڅو ملاتړ وشو، او د 2023 په پیل کې، دا بهیر په کمزوري ډول تعقیب شو. د سلفي علماو سره په ملي کچه مذاکراتو له طالبانو سره مرسته وکړه چې له بې توپیره تاوتریخوالي څخه په شا شي؛ خو د خواصو جوړ جاړي په لور د کوم پرمختګ لامل ونه ګرځېد. طالبانو سلفیانو ته د امارت د رعیت په توګه د سولې وړاندیز کاوه، خو سلفي علماء په امارت کې د شمولیت غوښتونکي وو

په کوم ځای کې چې طالبان تر ټولو اغېزناک و، د شنډولو تاکتیکونه وو، چې د IS-K د جلب او جذب، بیا اکمالولو او د پیسو د راټللو وړتیا مخه یې نیوله. دوی تر هغه وخته انتظار وکړ، تر څو د پراخه پوځي تصفیې له پیل مخکې پوره بشري ځواک ولري، ترڅو وروسته د ځمکې د ساتلو وړتیا هم ولري. که دوی د پخوانیو رژیمونو په څېر په غیر موثره توګه په پراخه کچه تصفیه کې ښکیل شوي وای، نو دوی به بې له کومې ګټې خلک پردي کړي وای.

یوه اړینه پوښتنه دا ده چې د IS پر وړاندې د طالبانو څومره هڅې د یاغیانو په توګه د دوی د پخوانیو تجربو څخه ترلاسه شوي دي. په داسې حال کې چې هیڅ یوې سرچینې په مستقیمه توګه په دې ټکي تبصره نه ده کړې، داسې ښکاري چې په لویو پوځي تصفیو کې د ښکیلتیا په اړه د دوی د نه لیوالتیا لامل ممکن دا وي چې دوی هغه مهال د دا ډول تاکتیکونو بې اغېزې والی تجربه کړی دی، کله چې دوی خپله د 2021 اګست څخه مخکې له دا ډول عملیاتو سره موخه وو. په ورته ډول، دا چې د 20 کلونو لپاره د یاغیانو جلب او جذب ته اړ وو، داسې ښکاري چې طالبان له هغو لویو ستونزو څخه ښه خبر دي چې یو یاغي سازمان ورسره د ځمکني کنترول د کمښت پر مهال مخ کېږي. طالبانو همدارنګه تل استدلال کاوه چې د2001-04 په اوږدو کې د افغان او متحده ایالاتو امنیتي ځواکونو له خوا بې توپیره غچ اخیستنې او ځپلو ډېر خلک د دوی لیکو ته بوتلل، او دوی ته یې وړتیا ورکړه چې خپل بغاوت پیل کړي. په اوسني حالت کې، که څه هم، دوی د توپیري ځپلو د یوې همغږې پالیسۍ پلي کولو هڅې کړي دي، ښایي د دې ښودنه وکړي چې درس اخیستل د اوږدې جګړې د احساساتي میراث له امله ګډوډ شي. بله هغه بېلګه چې د معقولې تګلارې جوړونې په لاره کې د دوښمن لپاره نفرت څنګه رامنځ ته کېږي، د پخلاینې او بیا یوځای کیدو د ښه پیل په تعقیب کې د طالبانو ناکامي ده.

بې له شکه چې IS-K د 2021 له اګست وروسته یو پیاوړی سازمان ثابت شو. سره له دې چې د مورال او مالي ستونزو سره مخ دی، په ښاري ستراتیژۍ تمرکز کوي په داسې حال کې چې هڅه کوي د افغانستان په شمال کې خپل دریځونه پیاوړي کړي. له نظامي اړخه، دا د طالبانو لپاره جدي ګواښ نه پېښوي. مشرتابه د خپلو جنګیالیو د ژغورلو پریکړه وکړه، او ډېر ژر یې حتی په ختیځ کې د چریکي جګړې د پیل کولو هڅې هم پریښودې. IS-K د دې پر ځای هڅه وکړه چې طالبان د ښاري ترهګرۍ د پراخې څپې په وړاندې د ښارونو په ساتنه کې بوخت وساتي، په ورته وخت کې دا تمه لري چې په شمال کې د خپل ځان د ټینګښت لپاره هڅې وکړي چې په منځنۍ موده کې به پایله ورکړي. په هر حال، وخت له IS-K سره یاري ونه کړه، او یوازې د 2022 په اوږدو کې د ي ډلې مالي ستونزې ډېرې شوې

داسې ښکاري چې IS-K د 2022 کال په پای او د 2023 کال په لومړیو کې په یو کونج کې پاتې دی، او تر ډېره بریده یې لامل له هغوی سره د طالبانو د مبارزې هڅې دي. دا سازمان د خورا ټیټ حیثیت په ساتلو سره ژوندی پاتې و، خو د دې معنا دا وه چې د جلب او جذب فرصتونه یې محدود او تر ټولو مهم، دا چې د افغانستان په داخل کې یې ډېرې کمې پیسې راټولولای شوې. له هېواده بهر څخه پر راټلونکو پیسو انحصار د 2022 په اوږدو کې په چټکۍ سره یو مسئولیت ثابتېدو. له مالي سرچینو پرته، IS-K په هغه ښه موقعیت کې نه و چې د طالبانو د پاتې کمزورۍ څخه ګټه واخلي: دا حقیقت چې سلفي ټولنه، په داسې حال کې چې په عموم کې د امارت له خوا د فشار کمېدل مني، لا هم احساس کوي چې ځپل شوي او د نوي رژیم تر واک لاندې د خپل راتلونکي په اړه د ډېرې ناهیلۍ احساس کوي.

داسې ښکاري چې IS-K د طالبانو له خوا د پخلاینې د پیل شویو هڅو په وړاندې خورا کمزوری و، او دا چې په هغه صورت کې دا سازمان له پرېکنده ماتې سره مخ کېدای شو، که چېرې طالبانو د پخلاینې د وړاندیزونو له لارې او په پرله پسې ډول د پخلاینې بهیر پلی کړی وای. د دې پر ځای، کله چې IS-K ګواښ د 2022 په دویمه نیمایي کې کم شو او پر ځای یې د طالبانو باور وده وکړه، د پخلاینې هڅې ټکنی شوې، سره له دې چې شواهد ښودنه کوي چې دا ترټولو اغېزناکه لاره وه. داسې انګېرل کېده چې جلا کېدونکي به د ټولنې د مشرانو په مرسته په اسانۍ سره یوځای شي، چا چې د امارت له خوا هیڅ ډول ملاتړ تر لاسه نه کړ. د دې اصلي لاملونه د طالبانو په لیکو کې د IS-K په وړاندې دښمني ښکاري، چې په زیاته اندازه وینې تویدو؛ پخلا شویو مخالفینو ته د تادیې لپاره د کمو مالي سرچینو د تخصیص له امله خفګان؛ او د سلفي خواصو په ښکېلولو سره د خواصو د یو پراخه جوړ جاړي پر لور د پام وړ پرمختګ کولو کې پاتې راتللو سره تغذیه شوي دي.

وخت به روښانه کړي چې ایا د پخلاینې ناکامه پروسه د طالبانو لپاره یو لوی له لاسه ورکړی فرصت و او که نه. د IS-K مالي کمزوري کولای شي د طالبانو له ډیرې هڅې پرته د دې سازمان د ختمېدو لامل شي، خو په راتلونکي کې مالي ستونزې ښېرته راګرځېدای شي، په کوم صورت کې به چې ممکن طالبان د پخلاینې د هیله منو هڅو له پامه په غورځولو پښېمانه وي. په داسې حال کې چې د IS-K پیاوړې بهرنۍ برخه په ښکاره ډول د بیا یوځای کیدو لپاره د چمتو کېدو په برخه کې حساسه نه ده، اوسمهال IS-K تر بل هر وخته ډېر د افغانانو ګډون ته اړتیا لري – دوی په ښارونو او کلیو کې د خپرو پټو عملیاتو لپاره پر پاکستانیانو تکیه نه شي کولای. که طالبان وکولای شي د IS-K شاوخوا 3000 افغان غړي په کافي اندازه کم کړي، په افغانستان کې به د یو بلواګر سازمان په توګه د دې ډلې وړتیا په هر اړخیزه توګه زیانمنه شي.

# د لیکوال په اړه

**Antonio Giustozzi** په RUSI کې د تروریزم او شخړې (Terrorism and Conflict) ټیم کې یو ارشد همکار دی. نوموړی له 1990 کلونو راهیسې په افغانستان کې او د افغانستان په اړوند کار کوي، او او هلته یې د شخړې په اړه پراخه خېړونې کړې، په ځانګړي ډول د طالبانو او اسلامي دولت په اړه. هغه د نورو اثارو تر څنګ د **طالبان په جګړه کې**: *2001-2021* (London: Hurst, 2022) او **په خراسان کې اسلامي دولت: افغانستان، پاکستان او د نوې مرکزي اسیا جهاد** (London: Hurst 2022) لیکوال هم دی.